د نړیوالو چارو له شنونکي سید بلال فاطمي سره د ژورلید مرکه

# افغانان : اسلامي امارت باید ژر تر ژره د نجونو ښوونځي پرانیزي

**ښوونځي له کفر سره پرتله کول او یا د کفر مرکزونه ((بنسټونه)) ګڼل د طالبانو د اسلامي امارت لپاره له ملت سره یو ستره جفا او نا بښونکې کړنه ده. اسلامي امارت تعصب و توپیري چلند ته مخه کړې ده**

**ویجعل الرجس علی الذین لایعقلون [یونس : ۱۰۰]**

مولوي محمد عارف قاسمي : د یو مسلمان په توګه تاسې د حاجت لمونځونه وکړئ چې خدایه پاکه زموږه امیر په دې خبره پوه کړې او که په دې کې کومې نیمګړتیاوې (نواقص) وي، نو موږه پرې پوه کړې.

**مولوي صاحب قرآن موږ ته د تعقل یعنې سوچ ((غور/فکر)) کولو حکم کوي نه دا چې شیخ هبت الله ته زارۍ او د حاجت لمونځونه وکړو. د مسلمان ګاونډي هېواد نظامي واستخباراتي اداري له موږ څخه زموږ سیاسي - اقتصادي او د زده کړې حق اخېستی دی او حق په زارویو نه غوښتل کیږي او نه یې په زاریو څوک چا ته ورکوي**

**قرآن ((هدی للمتقین))، ((هدی للناس))، ((هدی وبشری للمؤمنین))، ((هذا بصائر للناس وهدی ورحمة لقوم یوقنون)) او داسې نور**

## قرآني موخه ((مدعا)) دا ده چې ((...قوا انفسکم واهليکم ناراً)) [التحريم : ٦]

## او ((...فمن زحزح عن النار وادخل الجنة فقد فاز ...)) [آل عمران : ١٨٥]

## The purpose of the Quran:

**O you who believe! Protect yourselves and your families from a Fire, whose fuel is people and stones. Overseeing it are angels, fierce and severe. They never disobey Allah in anything He has commanded them, and they carry out whatever they are commanded. [Prohibition: 6] Every soul will taste death, and you will receive your compensation on the Day of Resurrection. Whoever is swayed from the Fire, and admitted to Paradise, has won. The life of this world is merely the enjoyment of delusion. [Family of Imran: 185]**

بي بي سي : د طالبانو مشر : د نړۍ فرمايشونه نه منو، که اتوم بم هم را باندې وکاروي.

خبريال : ستانکزی : هېوادونه مو مات کړل، خو حکومتولۍ مو ر مات کړو

نوټ : اسلام يو جامع دين دی چې د بشريت ټول هر اړخيز اړخونه پکې رانغښتل شوي، بلکې دېته يې انعام ويلی دی. قرآن له افلا تعقلون، افلا تتفکّرون، افلا تبصرون، افلا تسمعون، افلا يتدبرون، لا تشعرون، لو تشعرون، وما يشعرون، افلا ينظرون او له داسې نورو ډېرو ګټورو کلمو نه لکه وشاورهم في الأمر، فان تنازعتم في شيئ فردوه الی الله والرسول ان کنتم مؤمنين ... ډک دی. په کابل کې په زرګونو راټولو کړيو علماو ورته وړانديز او مشوره ورکړه چې د نجونو ښوونځي خلاص کړئ، خو ده بيا هم ترلي پريښي، نوره بله هيڅ پلمه ورته پاتې نه ده چې ملت ته يې وړاندې کړي. ان تر دې چې مولوي محمد عارف قاسمي د وينا پر بنسټ چې که د بل مذهب په فتوې باندې زمو ږ د حنفي فقهې او مذهب د هغه وخت علماء راټول او فتوی پرې ورکړي، نو هغه د حنفي مذهب يوه برخه (جزء) ګرځي، نو په کابل کې خو ټول راټول شوي علماء ټول حنفي مسلکه ول او نه دا د بل مذهب پورې اړوند مساله ده، بلکې د نص وحديث له مخې يوه حقوقي مسأله ده، نو دلته ولې بيا اغماض کوي؟

فبما رحمة من الله لنت لهم (١) ولو كنت فظًّا غليظ القلب (٢) لانفضوا (٣) من حولك فاعف (١) عنهم واستغفر (٢) لهم وشاورهم (٣) في الأمر فاذا عزمت (۴) فتوكل (۵) على الله ان الله يحب المتوكلين [آل عمران : ۱۴۹]

رحمة / استحسان او پايله يې

- نرمښت (لنت)
- سختزړي (فظًّا غليظ القلب
- انزوا/منزويتوب

تدبر / انتظام د ژوند

- تېرېدنه
- ښننه
- مشوره
- پرېکړه ((فيصله))
- توکل على الله

له بده مرغه چې ولس مو د خپل رسميت پېژندني لپاره له ځان سره يرغمل کړى او بونګه کړى دى چې زياته پره يې تاسي ته متوجه ده او بهرنيان هم پکې تر يوه ځايه پره دي، خو لومړى د پړې ګوته تاسي ته متوجه ده ځکه چې تاسي هغه شرايط يو په يو يو په بل پسې نه دي عملي (پلي) کړي او اوس مو په واک باندې خبته واچوله او د خپلې نامشروع غوښتني لپاره مو اوس ولس له ځان سره يرغمل کړى او نجوني مو له ښوونځيو او زده کړو محرومې کړې دي.

فاعف عنهم واستغفر لهم وشاورهم في الأمر فيه ثمان مسائل:

فأتياه فقولا إنا رسولا ربك (١) فأرسل معنا بني إسرائيل ولا تعذبهم ۖ (٢) قد جئناك بآية من ربك ۖ (٣) والسلام على من اتبع الهدى (۴) [طه : ۴۷]

فرعون او د هغه اړونده اداري او په ټوله قبطيانو له بني اسرائيلو سره توپيري (تبغيضي) چلند کولو، نو الله تعالى دا نه شوه زغملى او د دوى د خلاصون لپاره يې ورته موسى عليه السلام پيدا، د ده په خپل کور کې له

مرګ څخه وژغوره او د شعيب عليه السلام تر سرپرستي ((پالني)) لاندي را لوی او د کور يعني مېرمني څښتن کړ. بيا يې مبعوث کړ او فرعون ته يې ولېږه چي ورشه او ورته ووايه چي ...

عربى - التفسير الميسر : قال الله لموسى وهارون: لا تخافا من فرعون؛ فإنني معكما أسمع كلامكما وأرى أفعالكما، فاذهبا إليه وقولا له: إننا رسولان إليك من ربك أن أطلق بني إسرائيل، ولا تكلِّفهم ما لا يطيقون من الأعمال، قد أتيناك بدلالة معجزة من ربك تدل على صدقنا في دعوتنا، والسلامة من عذاب الله تعالى لمن اتبع هداه. إن ربك قد أوحى إلينا أن عذابه على مَن كذَّب وأعرض عن دعوته وشريعته.

فارسل معنا بني اسرائيل دا د موسى عليه السلام غوښتنه ده چي فرعون ته يې وويل چي له موږ سره دي يو استازی (هيئت) ولېږه چي حالات له نژدې او بالمشاهده وګوري چي اړونده چارواکيو دي څه زور زياتی زما په قوم بني اسرائيلو راخېستی؟

فرعون او قبطيانو له دوی سره توپيري چلند کولو. ټول سخت (شاقه) کارونه به يې په دوی کول. ان تر دې چي تشنابونه (بيت الخلاوې) به يې پرې هم پاکول. هغه څوک به چي بوډا او ناتوانه وو او کار به يې نه شو کولی، نو له هغوی به يې ماليه اخېستله او نور زياتی او ناروا وې خو قرآن خپله يادونه کړې ده.

ايا دا يو بې انصافه او توپيري چلند نه دی چي په ځينو سيمو کي مو ښوونځي خلاص پرېښي چي هلته نه کلتوري، نه ديني، نه د لباس او نه د نصاب وچاپېريال او نه د مالي ستونزو خبره شته، نو ولي له دې نورو سره دا ډول توپيري چلند کيږي؟

**.... وأمروا بالمعروف ونهوا عن المنكر .... [الحج : ٤١]**

**.... وأمر بالمعروف وانه عن المنكر .... [لقمان : ١٧]**

قال شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله :

**ليس الفقيه من يعلم الخير من الشر ولكن الفقيه من يعلم خير الخيرين وشر الشرين**

**((ان الشريعة جائت بتحصيل المصالح وتكميلها ، وتعطيل المفاسد وتقليلها بحسب الامكان ، ومطلوبها ترجيح خير الخيرين اذا لم يمكن أن يجتمعا جميعًا ، ودفع شر الشرين اذا لم يندفعا جميعًا)).**

مجموع الفتاوى : ٢٣/٣٤٣

**Shaykh al-Islam Ibn Taymiyyah, may God have mercy on him, said:**

**“The Shariah came to collect and complete it, and to be disable and reduce it as possible, and what is required is to give priority to the good of the two god things if they cannot be combined together, and to repel the evil of the two evils if they are not combined.” Total Fatwas: (23/343)**

**پوه ((فقیه)) دا نه دی چې ښه و بد پیژني، بلکې پوه ((فقیه)) هغه دی چې دوو یا ډېرو ښو یا ښېګڼو ترمینځ ((ډېر ښه)) او د دوو یا ډېرو بدیو ترمینځ ((بدتر)) وپیژني او توپیر یې کړي. مانا دا چې ((ډېرو ښو)) ته پر ((ښو)) او ((بدو)) ته پر ((بدترو)) ترجیح ورکړي. ځان، کورنی او هېواد ته لا ښه ګټه تر لاسه او له بدترو او وخیمو عواقبو او تاوانونو څخه ځان وساتي.**

شریعت د مصلحتونو ((ښېګڼو)) د لاسته راوړلو او د هغوی د پوره کولو یا سرته رسولو لپاره راغلی او همدارنګه د مفاسدو ((بدیو)) د ځنډولو او د هغوی د کموالي لپاره راغلی او موخه یې دا ده کله چې ټولې ښېګڼې لاسته نه راځي، نو بیا دي د دوو ښېګڼو ترمینځ یوه غوره شي یعنې هغه چې ښېګڼه یې ډېره وي او همدارنګه د بدیو/ضررونو د دفعه کولو یعنې له ضررونو/تاوانونو څخه د ځان ساتنې او مخنیوی لپاره مینځته راغلی کله چې د ټولو مخنیوی ناشونی وي، نو بیا دې له هغه سترو ضررونو/تاوانونو څخه ځان وساتي او لږ دې پر ځان ومني.

**حاجة الداعية و طالب العلم والمجاهد والفقيه لفقه المصالح والمفاسد**

**سافر موسى عليه السلام وقطع القفار ليصل للخضر عليه السلام حتى يتعلم ثلاث مسائل لها تعلق بالأساس بقاعدة مراعاة المصالح والمفاسد**

**عقد النبى صلى الله عليه وسلم صلح الحديبية وسماه الله فتحاً فى كتابه**

**((إنا فتحنا لك فتحاً مبيناً ))**

**د فقهي د ګټو او بدیو لپاره د مبلغ، علم غوښتونکي، مجاهد او فقیه اړتیا**

**موسی علیه السلام خضر علیه السلام ته د رسېدو په موخه له خرابی [کندوالې] څخه تېر شو، تر څو هغه درې مسایل زده کړي چې په اصل کې د ګټو او بدیو په نظر کې نیولو سره تړاو لري.**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیه تړون لاسلیک کړ او خدای تعالی په خپل کتاب کې دا یوه فتحه بللې ده.**

**(( ښېشکه موږ تا ته ښکاره بریا درکړه))**

طالبي کړنلارې د هېواد او ولس په ګټه نه دي. امارت خپله ګټلې سوبه/بریا ((فتحه)) د خارګرې ادارې په یوې باریکې ((نازکې)) لومې له لاسه ورکړه. اوس هم لا وختي دی. هیله ده چې ژر تر ژره له سره غور وکړې او هېواد/ملت له لا نورو وخیمو ستونزو راوباسي. بله لار ورته نشته. یا به سمیږي او یا به له مینځه ځي. اسلامي امارت د څو تنو مشخصو سختدریځو او متعصبو ناپوه په لاس کې دی چې د بېګانه خارګرې ادارې په لاس کې څرخي او د هېواد د لوړو ملی - اسلامي، اقتصادي او تاریخي ګټو په تاوان دي.

**ما ذئبان جائعان أُرسِلا في غنم بأفسد لها من حرص المرء على المال والشرف لدينه**

له بده مرغه چې ننني واکمنه اداره هم د تېرو نظامونو په څېر د واک او عزت د لاسته راوړنې په تنده کې رابنکېل شوي او سم لیدلوری ترې ورک شوی، نو ځکه له کورنیو او نړیوالو ستونزو او هم د خپل شل کلن کوربه هېواد له لورې په بېلابېل تورون لګول کیږي. ان تر دې چې وړمه ورځ پرې د ملګرو ملتونو په غونډه کې ولګول شو. رئیس الوزراء دې خدای ته بغارې کړي چې د خپل شل کلن کوربه هېواد له نویو تورونو څخه خلاص او خولې یې بندې شي.

## له (( وَ عَلَّمَ )) او (( اَنْبِئُهُمْ )) څخه تر (( اِقْرَأ )) پورې

**وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدو الله وعدوكم وآخرين من دونهم لا تعلمونهم الله يعلمهم ۚ وما تنفقوا من شيء في سبيل الله يوف إليكم وأنتم لا تظلمون [الأنفال : ۶۰]**

مولانا محمد خان شیراني : دا د پردی جنګ دی چې ملا وطالب او مذهبي طبقې ته په ښت پورې ورتړلی دی.

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-61127464

https://www.youtube.com/watch?v=UarDSlPZEPc

https://www.youtube.com/watch?v=8m7TkwAncBU&t=227s

بي بي سي :

ښاغلی اخوندزاده وايي، هېڅوک دې نوموړي ته د حکومت مشورې نه ورکوي او ټينګار کوي که "نړۍ اتوم بم هم راباندې وکاروي، ټول مو وېلې کړي بيا هم د چافرمايشونه نه منوو.

نوموړی وايي: "نړۍ نه غواړي د افغانستان حکومت پر خپله اراده وچلېږي، موږ ته مشورې راکوي، زه ستاسي د فرمايشاتو نه يم، نه يو قدم درسره مخ ته ځم، نه تعامل درسره کوم، نه په شريعت معامله درسره کوم.

شيخ هبت الله، ملا حسن اخوند، ملا عبدالغني برادر او نور د اسلامي امارت چارواکي دا څنګه توجيه کوي چې همدا سوکال د روژې مبارکې مياشت کې د دوی د کوربه هېواد پاکستان الوتکي راغلي او زموږ د خوست وپکتيا ځيني سيمې يي چې هلته زموږ وزيرستاني ورونه استوګن ول ښځينه پيلوټانو بمبارد کړل او په شهادت يي ورسول. که د ښځو کار او د نجونو زده کړه زموږ لپاره منعه وي، نو کوربه هېواد خو هم اسلامي هېواد دی، نو دا څنګه کېدای شي چې هغوی ته دي يو حکم روا او موږ ته دي ناروا وي؟

## Pak-Afghanistan rift widens with the Taliban’s refusal handover TTP militants after air strikes

**A TTP’s social media account shared the picture of a Pakistani woman fighter pilot who allegedly took part in the airstrike. “Inshallah, we will take revenge from this apostate, savage, cruel and infidel army,” says the post.**
**The unverified pro and anti TTP social media accounts have been claiming that Pakistan’s air strikes were led by women fighter pilots of Pakistan air force.**
**“The bombing of TTP bases in Khost and Kunar, Afghanistan was carried out by this Pakistani female pilot Marium. Imagine how TTP terrorists feel like when a women bombs them in the Waziristan. Not a good feeling for a group that thinks that women should stay in a house,” wrote a war correspondent named Frenkie Mark.**
**A pro TTP user, shared the picture of another woman pilot and wrote in his post that “we will take revenge from this apostate, savage, cruel and infidel army.”**

خبریال :

خيبر الكوزی :

د لوی او ښنوونکي ښځنن په نامه او د کابل اوسېدونکيو او د ژورليد درنو اورېدونکيو ستړي مه شئ او سلامونه! د ژورليد خپروني ته مو خيبر الکوزی هرکلی کوم. په دې خپرونه کې په دې موضوع بحث لرو چې د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونيو ګوتيرش د اسلامي امارت له چارواکيو بيا غوښتنه وکړه چې د ټولو نجونو پر مخ د ښوونځيو دروازې پرانيزي چې د اسلامي امارت له خوا د نجونو د ښوونځيو له تړل کېدو نن يوکال پوره شو، خو لا هم ميليونونه افغان نجوني له زده کړو محرومې دي. عام افغانان وايي د اسلامي امارت لپاره له ناسمو پلمو ستړي شوي او زياتوي چې دوی غواړي خپلې لونې ښوونځيو ته وليږي، خو حکومت يې مخه نيسي. تر دې مخکې اسلامي امارت د شرعيات تعليمي نصاب، د ښوونځيو د نجونو يونيفورم، افغاني کلتور او د نجونو له تعليم سره د افغانانو مخالفت هغه پلمې دي چې ولس يې ورسره نه مني او دا ځواب ورته معقول او قانع کوونکی نه دی.

دوه اوونۍ وړاندې پکتيا کې هغه ښوونځي چې د خلکو په خوښه پرانېستل شوي وو، خو د اسلامي امارت له لورې بيرته وتړل شول. يوکال تېر شو چې په ګرمسيرو سيمو کې که څه هم هلته ښوونيز کال پيل شوی دی، خو اسلامي امارت اجازه نه ده ورکړې چې هلته له شپږم ټولګي پورته نجوني ښوونځيو ته بيرته لاړې شي او خپل درس شروع کړي. دا چې ولې اسلامي امارت دغسې کړنه ترسره کوي او د ښوونځيو دروازې بندې ساتي دېته ته ورته او د نورو مسايلو د بحث لپاره راسره ديني عالم محمد عارف قاسمي او د نړيوالو چارو شنونکی سيد بلال فاطمي دواړه راسره مېلمانه دي. دواړ ته هرکلی وايم. ستړي مه شئ!

**خبریال :**

**مولوي صاحب، بحث له تاسي راپيلو. يوکال تېر شو، که ديني اړخ ته راوګرځو، خو حق دی او په حق باندې له مخکې نه هم بحثونه تر سره شوي دي. دغه حق ممکنه ده چې بيرته جبران شي؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

بسم الله الرحمن الرحيم

يعني تاسي داسي وايي دا کوم کال چې تېر شو [هو، دا تېر کال]؛ نه د دې جبيره خو نه شي کېدای. په کورونا کې چې جبيره نه شو، نو اوس هم د دې جبيره نه شي کېدای. يو رقم کيږي چې ځيني مکتبونه په يو کال کې دوه صنفه مخته ځي. هغه بيخي رخصتي نه لري. که داسي يو ضيق (تنګ) حالت کې فشار راوړل شي، نو بيا امکان لري. که نه، نو د دې يوکال جبران نه شي کېدای.

**خبریال :**

**ځکه دا حق دی او د دا د حق غوښتنه ده او حق د الله تعالی نوم، نو ولي ترې دا حق اخېستل شوی دی؟ ستاسې په اند دا څنګه دي؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

نو دا خو داسي ده چي د ټول افغانستان لوی مشکل همدغه دی چي افغانان وروستی (فاينل) تجربي ته دي رسيدلي . وروستی (فاينل) تجربه څه ته وايي؟ ترکيه وروستيو (فاينل) تجربو ته رسېدلي، سعودي رسېدلی، پاکستان رسېدلی او هند رسېدلی دی. نيمه اسلامي نړۍ يعني مسلمانان هلته په هند کي ډېرې خپلواکی (ازادی) لري . همدارنګه په نورو مملکتونو کي چي عربي دي هغوی ټول په اسلامي او بين المللي برخه کي بالکل وروستيو (فاينل) تجربو ته رسيدليدي او په اروپا کي چي کوم **rights** يا حقوق ورته وايی چي له هغي نه موږ ځان ځکه څنګ يا يوې خوا ته کوو چي د ښځي په توګه شريعت هغي ته اجازه نه وي ورکړې او په اروپا کي هغه **rights** يا حقوق دي. په امريکا کي هغه **rights** يا حقوق دي. اسلام موږ ته د هغي اجازه نه راکوي چي دې برخه کي هم اسلامي علماء، د پوهنتونونو استاذان او بسته بسته مملکتونه حتی په کفري مملکتو کي اسلامي پوهان دې پايلي ته رسېدلي دي چي څنګه دواړه مخته بوځو چي هم شريعت مخته بوځو او هم له تعليم نه وروسته پاتي نه شو. د دې لپاره ډېرې لارې چارې سنجول شوېدي. اوس هم چي الحمد لله اسلامي امارت به دې مرحلې **stage** ته رسيږي، خو که موږ له تېرو سلو کلونو راهيسي راونيسو، نو زموږ چي په نړيواله (بين المللي) کچه کوم پرمختګ دی له هغه نه موږ شا ته پاتي يو. يوازې د نجونو نه، بلکي په هر ډګر کي شا ته پاتي يو، يعني د هلکانو او حتی زموږ د علماو په تعليم کي ستونزې شته. يعني هغه کتابونه چي په هند کي چاپېدل چي د هغي لپاره په ځينو تصنيفي کتابونو کي ورته اړتيا (ضرورت) وه/وو، هيڅکله او تر اوسه لا افغانستان ته نه دي راغلي چي لړ تر لږه (لا اقل) يو ټوک (جلد) يې راشي چي يا يې دولت راوغواړي او يا يې مدرسي او يا يې يو اسلامي بنسټ راوغواړي نشته، نو په افغانستان کي اصلاً لا تراوسه شريعت سم نه دی تشريح شوی.

د ښځي په توګه په کابل کي ايا په کليو کي د جمعي لمونځ کيږي او يا نه؟ خو موږ وتاسي ګورو چي په هر کلي و قريه کي کيږي، خو که ته چېرته په کندهار، هيلمند، اوروزګان او يا فراه کي هېڅ امکان نه لري چي ته د جمعي لمونځ له ښارونو بهر چيرته پيدا کړې. داسي هېڅ يوځای پيدا کولی نه شي چي هلته دې ځوک د جمعي او يا د اختر لمونځ له ښاره بهر وکړي، ولي هغوی په متونو د امام ابوحنيفة (رح) باندې عمل کوي. متون يو متن دی چي وروسته بيا وروستني (متأخرين) علماء دي چي هغوی بيا دا فتوی ورکړې ده چي که د بل مذهب مسأله وي هغه په حنفي مذهب کي د هغه وخت علماء چي کوم ژوندي دي چي هغوی پرې پرېکړه (تصويب) وکړي چي بس موږ پر دې باندې موږ عمل کوو، نو هغه د حنفي مذهب يوه برخه (جزء) کيږي لکه دغه د جمعي او د اختر لمونځونه په کليو کي چي دا په حنفي متونو کي يا د امام ابوحنيفة په مذهب کي دا ثبوت نه شي پيدا کولی، خو دا د امام مالک رحمة الله عليه مذهب خبره ده. اما په حنفي مذهب کي د هند

علماو دا فتوی ورکړه چي له هند نه پاکستان او پاکستان څخه دېخوا ته زموږ په پایتخت کابل او دېخوا ته او آخوا ته چي د جنوب او د جنوب غرب حوزه ده هغه علماو لا تر اوسه دا خبره نه ده منلي. یعني موږ کله چي هلته له علماو سره دا خبره یاده کړله، نو هغوی وویل چي زموږ د علماو لا تر اوسه پورې فتوی راغلي نه ده. یعني زموږ علماو لا تر اوسه پورې په دې مسأله باندې فتوی نه ده ورکړې. نو په حنفي مذهب کې لا تر اوسه ډېر داسي مسایل دي چي د بېلګې په توګه زموږ په حنفي امام ابوحنیفة رحمه الله مذهب کې ډېر داسي مسایل دي چي هغه ورته اجازه ورکړې ده، خو زموږ علماء تري خبر هم نه وي چي غوره (مفتی به) خبره کومه یوه ده؟

نو نن سبا په نړیواله کچه د نجونو د ښوونځیو مساله چي دېته نشاط وایی. نشاط څه ته وایی؟ نشاط فعالت ته وایی او دا فعالت (نشاط) په هر ځای یعني هر مملکت کي دومره زیات دی چي هر یو وایی چي ٪۹۷ زموږ لوستي (تعلیمیافته) او ٪۳ زموږ نالوستي یا تعلیمیافته دي. ٪۹۵ زموږ لوستي (تعلیمیافته او ٪۵ نالوستي (تعلیمیافته) دي. په افغانستان کې نظر وکړې، نو نشاط تعلیمي او د زده کړې نشاط ډېر زیات دی. د طالبانو هم ډېر زیات شوق دی. داسي نه ده چي د طالبانو د مشرانو شوق نشته دی چي زموږ نجوني او خویندې دې هغوی درس ونه وایی، بلکې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رح) د ۲۳۰۰۰ زده کوونکیو د لیلیې پلان درلودلو چي زه پوهنتون جوړوم. د درویشت زره انسانانو لیله دا بیخي نااشنا خبره وه چي ....

### خبریال :

### نو اوس علت څه کېدای شي چي د ښوونځیو دروازې یې بندې پاتې دي؟

مولوي محمد عارف قاسمي :

اوس خو که مخکې که امیرالمؤمنین وو، هغه یو نظامي سړی وو او ډېر پاک سړی وو. ډېر سوچه سړی وو، ډېر ځوانمرده سړی وو. ډېر زړه سواند (دلسوزه) سړی وو حتی د خپل شخصي موټر کیلیاني به یې زخمیانو ته ورکولې. داسي غریب به چي ورته ورغی خپل شکایت به یې ورته وکړ ، نو شخصي موټر به یې ورته خرڅ کړ. ته ودرېږه چي هغه خوشاله شي او زړه یې ښه شي که نه موټر خو نور هم ول. همدغسي پیسي یې هم ورکولې شوې. زموږ دا موجوده که کوم امیر یا مشر مو دی دا له هغه امیر نه هم چي د هغه د استاذانو په ځای کې دی، یعني په علمیت کې دا دومره اوچت دی، خو موږه په دې نه پوهیږو چي احیانًا داسي کوي چي د ده یقین داسي وي چي زه مې دا خپله خبره خلکو ته رسولې شم؛ که نه نو مشاورین هم له دې ځایه له کابله هم ورغلي‌دي او هلته هم ده ته خلکو مشورې ورکړي‌دي. ټول له ده سره ادب کوي چي عالم دی او نېک سړی دی. دلسوزه دی، نو زه دا وایمه چي ما مخکې دا پېشنهاد خورګانو ته هم کړی وو چي :

**تاسي يوازې بين المللي فشارونو ته مه ګورئ. اصل فشار د چا په لاس کې دی؟**

**د رب العالمين په لاس کې دی او د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقو کې دی چې هغه موږ ته رازده کړيدي چې په دې رقم باندې تاسې غواړئ چې خپل حاجت لاسته راوړئ.**

**د يو مسلمان په توګه ((حيث)) تاسې د حاجت لمونځونه وکړئ چې خدايه پاکه زموږه امير په دې خبره پوه کړې او که په دې کې کومې نيمګړتياوې (نواقص) وي، نو موږه پرې پوه کړې.**

**خبريال :**

**مولوي صاحب دلته بله پوښتنه هم راولاړيږي چې د علماو په غونډه کې هم هلته پرېکړه وشوه چې ښوونځي دې پرانېستل شي او د افغانستان په ټولو ۳۴ ولايتونو کې هم غږ پرې وشو چې ښوونځي دې خلاص کړي، ولې د علماو دا غږ وانه وريدل شو؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

بيا هم الله رب العزت خپل پيغمبر ته فرمايي چې ((وشاورهم في الأمر)) يعنې ته مشوره کوه. مشوره دېته وايې چې زه له تا نه پوښتنه کوم چې ته د کوم کار اشاره ما ته کوې؟ په خولې سره يا په لاس سره؟ او مشاوره دېته وايي چې زه تا ته د يو کار په کولو يا نه کولو سره اشارې کوم او ته ما ته اشارې کوې. ته مشاوره کوه شَاوَرَ - يُشَاوِرُ چې دا باب د مشاورې دی. مشاوره يعنې دوی نه هم پوښتنې کوه چې زه څه وکړم او ته هم بيرته خپل نظر وړاندې کوه او له دوی يعنې صحابه وو نه پوښتنې کوه چې زه څه وکړم؟

که بيا داسې کوم مشکل راغی چې د دوی ذهن هم کار نه کولو او ستا ذهن کار کولو، نو ته بيا د دوی پروا مه کوه. نو بيا الله تعالی خپل پيغمبر (ص) ته فرمايي چې ((فاذا عزمت فتوکل علی الله)) کله چې تا د يوې خبرې عزم (قصد) دې وکړ، نو بيا تکيه دې پر الله باندې کړه. تکيه پر الله باندې کوه.

**خبريال :**

**اوس د ښوونځيو د بندولو دغه تکيه دوی پر الله باندې کړې ده؟ يعنې همداسې ده که نه؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

دا سړی اوس نه پوهیږي چې امیرالمؤمنین په دې کې په کوم فکر (سوچ) دی؟ ما مخکې داسې یو حدس وهلی وو کنه، خو مشران دي او د هغوی باره کې څوک څه نه شي ویلی. ما داسې حدس وهلی وو چې ودې شي چې دا امیرالمؤمنین داسې یو ذهنیت وي چې موږه داسې یوه فتحه لاسته راوړې ده چې د هېچا زور رابانديِ رسېدلی نه شي، خو بیا مې مشوره وړاندې کړې وه. ځکه چې زموږه مشران دي او موږ ورسره ادب هم کوو او دا حق ځانته ورکوو چې مشوره ورکړو او ټولو علماو دا حق ځانته ورکړی دی او ټولو مشورې ورکړي دي چې بیا هم دا ستا لپاره په ټوله نړۍ یو ستره بریا/ننګونه ده چې هغه ستا طرفدار ملکونه هم دي چې هغه کفري دي او یا نه، لکه هغه اتریش چې کوم مملکت وو چې طالبان یې هلته وغوښتل. ډېره لویه غونډه یې جوړه کړه او موخه یې دا ده چې دوی له نورې اروپا سره اشنا (بلد) کړي. یعنې په کفارو او عیسویانو کې هم داسې خلک شته چې د اسلامي امارت کلک طرفداران دي. دمره کلک طرفداران دي چې ورته حیران شې او په زنانه وو کې داسې زنانه دي چې په نصراني نړۍ کې د طالبانو ډېرې سختې طرفدارانې دي. په امریکا او اروپايي ټولنو کې او بیآ په اسلامي ملکونو کې ډېر زیات ملکونه ول چې دېته یې اشتها (لېوالتیا) وه چې له امارت سره ډېرژر اړیکې جوړې کړي او ژر امارت په رسمیت وپېژني. مګر دې داسې یو مشکل ایجاد کړی دی چې ټولو ته یې په نظر کې داسې ورکړي دي چې ګویا طالبان د تعلیم خلاف دي.اصلاً طالبان د تعلیم خلاف نه دي.

**خبریال :**

**نو بیا همدغه پلمه (بهانه) له مینځه ولې نه ورکیږي، له مینځه نه ځي؟ اسلامي امارت ولې دغه پلمه (بهانه) پرېښې ده؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

نو اوس هم هاغه بله ورځ مجاهد صاحب پرون غالبًا ویډیو کړې وه او دا خبره یې کړې وه چې په دې باندې بحث شروع دی. نو ودې شي چې مخکې په امارت کې خو تلویزیون او تصویر ته یې خو اجازه نه ورکوله او اوس ملي تلویزیون بیرته فعاله دی. او هماغه مشران اوس هم مشران دي چې په هماغه امارت کې مشران ول. او پر زنانه وو باندې هغه وخا چادري داسې لازمه کړې وه چې هغه وخت کې زما ښه په یاد دي چې حتی دا تور حجاب به یې چې اغوستلو دا یې هم نه منلو، خو اوس تور حجاب بالکل صحیح دی. په شرعي لباس کې حساب دی.

**خبریال :**

**راځو مولوي صاحب د دین له لیارې نه، ایا دومره سختدریځي په اسلام کې شته؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

په اسلام کي ډېر ځله داسي کېږي چي موږ ډېر څه له لاسه ورکوو او في الحال هغه شی له لاسه ورکوو، لکه في الحاله موږه ګورو چي دا خور بې حجابه ده. د ښځي په توګه سترګي يې ښکاري. سترګي محل د حُسن، د عشق او د هر شي په سترګو کي دی. غوسه د يو انسان په سترګو کي معلومېږي، عشق وعاشقي، علميت، ناپوهي او لېونتوب چي دا ټول په سترګو کي ښکاري. نو حجاب اصلاً د سترګو حجاب دی. ليکن دا موږ اوس په عامو بازارو کي ګورو چي امر بالمعروف خلک دا اجازه نه لري چي خور ته ووايي چي فشار راوړي. هسي خو د اعلانونو دا لوی لوی تختي **advertisements** چي دي په دوی کي خورګانو ته ډېري توصيي کوي، خو پر امر بالمعروف باندي ډېر سخت بنديز دی چي تاسي به داسي يو ادنی حرکت هم نه کوئ چي څوک په هغه خبره باندي په عذاب (تکليف) کړئ. توصيه، توصيه، نرمه خبره هم نه مني چي خلک ډېر ځورېدلي دي، نوخلک مه په عذابوئ. نو چي مه عذابوئ چي يوه برخه يي همدا هم ده، نو دا خورګاني مه په عذابوئ. دوی پرېږدئ چي درس ووايي. بيا وروسته که ته په خورګانو باندي دا نيوکه (تنقيد) نيسي چي خوري ستا حجاب کم دی، خو اوس هغه خور وايی چي بي سرنوشته شوم. پلار يي وايی چي ما خپله لور تر دغه ځای راورسوله. زه خوشاله يم چي لور مي تعليميافته شي. ما کله ويلي‌دي چي زما لور دي بي حجابه وي؟ زما لور د تهجد لمونځ کوي. زما لور الحمدلله تلاوت او د قرآنکريم حفظ کوي، خو درس هم وايی. هغه يي شوق دی چي د دي علمي سويه پورته شي. او دا مسلکي (رشته يي) درسونه ووايی چي په يوه رشته کي دا درس ووايی. نو خوشاله نه دی او وايی چي زه مي دا لور چيرته يوسم او کوم مملکت ته ولاړ شم؟ نو په زړه کي په دي مسلمان ورور باندي ډېر سخت درد تيرېږي. که د اسلامي امارت اميرالمؤمنين اوس ورته دا اجازه ورکړي، نو دی به وايی چي ما خو اوس داسي يو کار وکړ چي والله خدای ته به زه مسؤوله يم. زه دا اميد ساتم چي عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د حديبي په سوله (صلح) کي چي کله رسول الله صلی الله عليه وسلم لاسليک (دسخط) وکړ، نو مشرکانو وويل چي که موږه ته دا درسره منلی چي ((**لو نعلم انک رسول الله ما قاتلناک ولا ما صددناک عن البيت ولکن اکتب اسمک واسم ابيک ، فأمر صلی الله عليه وسلم عليًّا بمحوها فقال لا والله، لا امحک ابداً**)) نه به مو له تا سره جنګ کړی وای او نه به مو له بيت الله نه منعه کړی وای. خبره په دي باندي ده چي محمد رسول الله که محمد بن عبدالله، نو علي رضی الله تعالی عنه ته يي وويل چي ته زما له نوم رسول الله لېري (ايسته) کړه، نو هغه وويل چي زه خو دا کار نه شم کولی چي ستا له نومه څنګه زه رسول الله لېري کړم؟ زه خو پوهېږم چي ته د خدای رسول يی. محمد صلی الله عليه وسلم قلم راوخيست او په خپل لاس يي ترې رسول الله لېرې کړ او پر رسول الله باندي يي داسي خط کش کړ. ټول حيران شول چي دا ولي؟ خو دا کله ناکله مافوق عقل خبري دي چي يو عقل دی او بل مافوق عقل خبري دي. بيا هغه ديدګاه نبوت دی. بيا الله تعالی فرمايي چي ((**اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله**)) ته د مؤمن له هوښياری وډار شه د الله تعالی په نور سره ليدل کوي. في الحاله خو ناکامي وه، خو

راتلونکي (آینده) کي هغه بریا (کامیابي) لیدله، نو الله تعالی هغه سورة مینځته راولیږلو چي ((**انا فتحنا لک فتحًا مبینًا**)) تا چي له دوی سره د دوی دا شرایط ومنل همدغه بریا (فتحه) ده. دا ځکه چي تا سولي (صلحي) ته لاره جوړه کړه.

الحديث : ضعيف جدّاً.

رواه الترمذي ( 3127 ) من حديث أبي سعيد الخدري – رضي الله عنه - ، وإسناده ضعيف ، فيه عطية بن سعيد العوفي ضعَّفه أحمد وأبو زرعة ، وفيه مصعب بن سلاَّم ضعَّفه علي بن المديني ، ولابن معين فيه قولان ، وقال ابن حبان : كثير الغلط لا يحتج به ، وقال ابن عدي : ولمصعب أحاديث غير ما ذكرت غرائب وأرجو أنه لا بأس به وأما ما انقلبت عليه فإنه غلط منه لا تعمد.

والظاهر أن حديثه هذا مما غلط فيه ، وانقلب عليه ، فقد روى الحديثَ سفيانُ عن عمرو بن قيس – الراوي عنه مصعب هذا الحديث – قال : كان يقال " اتقوا فراسة المؤمن " ، وهو الذي صوَّبه العقيلي في " الضعفاء " ( 4 / 129 ) ، والخطيب البغدادي في " تاريخ بغداد " ( 3 / 191 ، 192. )

ورواه الطبراني في " الكبير " من حديث أبي أمامة – رضي الله عنه - ، وإسناده ضعيف ، فيه : عبد الله بن صالح وهو كاتب الليث بن سعد ، ضعَّفه أحمد وابن المديني والنسائي وصالح جزرة وابن حبان.

ورواه ابن جرير الطبري في " التفسير " ( 14 / 46 ) ، وأبو نعيم في " حلية الأولياء " ( 4 / 94 ) من حديث ابن عمر – رضي الله عنه - ، وإسناده ضعيف جدّاً ، فيه فرات بن السائب ، قال البخاري : منكر الحديث ، تركوه ، وقال الدارقطني : متروك.

ورواه ابن جرير – أيضاً – ( 14 / 46 ) من حديث ثوبان – رضي الله عنه - ، وإسناده ضعيف جدّاً ، فيه مؤمل بن سعيد وسليمان بن سلمة ، وكلاهما منكر الحديث كما قال أبو حاتم الرازي ، وقال ابن حبان عن مؤمل بن سعيد : منكر الحديث جدّاً ، روى عنه سليمان بن سلمة الخبائري ، فلا أدري البلية منه أو من سليمان.

والحديث : حكم عليه الحافظ ابن الجوزي بالوضع ، والشيخ الألباني بالضعف – كما في " السلسلة الضعيفة " ( 1821 ) - ، والصواب : التوسط وأنه ضعيف جدّاً.

ويغني عن هذا الحديث : حديث أنس – رضي الله عنه – قال : قال النبي صلى الله عليه وسلم :" إن لله عباداً يعرفون الناس بالتوسم " ، رواه الطبراني في " الأوسط " ( 3 / 207 ) ، وابن جرير الطبري في " التفسير " ( 14 / 46. )

قال الهيثمي : رواه البزار والطبراني في الأوسط وإسناده حسن.

مجمع الزوائد " ( 10 / 268. )

وحسَّنه الشيخ الألباني في " السلسلة الصحيحة " ( 1693 ).

والله أعلم

**خبريال :**

**مولوي صاحب له تاسو ډېره مننه بيرته تاسو ته په دې بحث کې راګرځو.**

**فاطمي صاحب تاسو ته راځو، تاسي ګورئ چي دا د ښووڼځيو د تړل کېدو کال پوره شو، د نجونو پر مخ د ښووڼځيو دروازې له اووم ټولګيو څخه تر دولسم ټولګيو پورې تړلې‌دي. علماو غوښتنه وکړه، شبين ړيرو، مشرانو او خپله د ښووڼځيو زده کوونکيو همدغه غوښتنه وکړله. اسلامي‌امارت تر اوسه دغي غوښتني ته هغه ځواب چي ولس يې غواړي يا يې هغه زده کوونکي غواړي ولې نه دی ورکړل شوی؟**

سيد بلال فاطمي :

بسم الرحمن الرحيم

الكوزى صاحب تاسي ته او قدرمن مولوي صاحب قاسمي‌ته او ستاسي ليدونكيو او اورېدونكيو ټولو ته د زړه له كومي سلامونه او احترامات وړاندي كوم. [**مننه**]

تاسي خپله پوهېږئ چي كله زه تاسي دعوت كړلم، ما تاسي ته وويلي چي دا موضوع نوره دومره زياته شوې چي نه غواړم راشم او له تاسي سره پرې بحث وكړم. ځكه ما تاسي ته دا هم ويلي وو چي ما تېره هفته كې لږ تر لږه له ۱۵ څخه تر ۱۷ پرګرامه م كړي‌دي. كه چېرته په دوو كې دا موضوع نه وي راغلي، نو په اكثريتو كې همدا موضوع راغلي ده او زياتره چي له مشرانو او دوستانو سره چي مخ كيږو، نو په همدغه دليل او موضوع باندي خبري كوو چي دغه يوه لويه ستونزه ده چي د دې نظام ستني او پايي يې سستي كړي دي چي د دې په دې لاره كې بايد اقدام وشي. تاسي ويل نه چي كليزه يې پوره شوې ده چي بحث پرې ورباندي وكړو او دا واقعيت دى چي بحث بايد ور باندي وشي. ولو كه موږ پرې ستړي كيږو هم نور مو له دې نظام نه هيله ختمه ده. دا نظام نور كوم مثبت خوا ته روان نه دى. ښكاره خبره ده چي نوره هيله ختمه شوې ده. دا نظام مثبت خوا ته روان نه دى او منفي خوا ته روان دى او فقط خپله يې خپلو پښو ته تېشي نيولي‌دي. دا اوس هم تاسي ګورئ چي قدرمن مېلمه دا لس پينځلس دقيقي تاسي وكتلو چي دېخوا او آخوا ته تللو. داسي نه ده چي دى علم نه لري. دى علم لري، دى فهم لري او يوه سلسله په هر څه باندي پوهيږي، خو ويلى يې نه شي. واقعيت نه شي ويلى. او د مسلمان يوه غټه نښه دا ده چي كه هغه په واقعيت پوهيږي د الله تعالى لپاره به واقعيت ووايي او كه يې نه شي ويلى، نو بيا يې درې لارې ويلي دي :

- يا به يې په لاس مخنيوى كوې،

- یا به یې په خوله ورته وایی،
- او یا به په زړه کې رخه ورسره لرې او بد به دې ترېنه راځي.

که موږ یې نه شو ویلی، نو باید ځان ترېنه لیرې وساتو. که راځو او کښېنو، نو واقعیت باید د خدای لپاره ووایو. ګورئ که امیرالمؤمنین دی او که عادي مجاهد دی د الله تعالی له قرآن او سنتو نه اوچت انسان نه دی. دا جهاد چې شوی د الله د قرآن د حکم او د سنتو په رڼا کې شوی دی او د هغې پر اساس شوی دی. دوی په دغه جهاد کې انسان نیولی دی، محاکمه کړی یې دی او بیآ یې په چاړه باندې حلال کړی دی او بیا یې وژلی دی او که چا ورته ویلي چې دا ولې دې وکړو؟ نو بیا یې ورته ویلي‌دي چې دا مو د قرآن وسنتو لپاره وکړ. د دې لپاره چې ده تخلف کړی وو. دی جاسوس وو. ده وطن خرڅ کړی وو، ده دا کړي وو او هغه.

نو دلته اوس موږ ګورو چې زموږ مشران له قرآن وسنتو نه پښه ارته آخوا ته ږدي. ده وویل چې د امیرالمؤمنین علمیت زیات دی. علمیت یې زیات نه دی. که علمیت یې زیات وای، نو د قرآن وسنتو نه یې پښه نه اړوله. که علمیت یې زیات وای، نو رب العزت ته مې دې قسم وي چې د قرآن وسنتو نه یې پښه نه شوه اړولی. ځکه چې موږ وتاسي څو ادله د شرعي لرو چې :

- هغه قرآن دی،
- سنت دي،
- اجماع ده،
- قیاس دی
- او اجتهاد دی.

اصول ادلة شرعية  الاحكام

الكتاب، السنة، الاجماع، القياس، الاستحصاب، الاستحسان، قول الصحابي، المصلحة المرسلة، سدُّ الذرائع و شرع من قبلنا.

دې قیاس واجماع او اجتهاد د علماو  ته برعلاوه له قرآن وسنت نه ولې اجازه ورکړل شوې ده؟ قاسمي صاحب خپله عالم دی. د علماو اجماع ته د دې لپاره اجازه ورکړل شوې چې هغه شی چې تاسي ته په قرآن و په سنت کې بیدا نه شي او یا د حل لاره درنه کړي، نو د علماو اجماع چې څه پرېکړه (فیصله) وکړه هغه الله تعالی و رسول (ص) ته قبول ده او هغه د دین لپاره یوه اصل دی چې په هغې باندې به موږ وتاسي عمل کوو.

دلته خو د قرآن نص موجود دی. يو ځلي نه، بلکې بار بار موجود دی. دلته خو احاديث موجود دي. زه د علماو اجماع ته اړتيا (ضرورت) لرم او نه زه قياس ته اړتيا (ضرورت) لرم او نه زه اجتهاد ته اړتيا (ضرورت) لرم. ما ته د قرآن وسنت احکام واضح دي چې تعليم دی چې ((اقرأ باسم ربک الذي خلق ....)) احکام د قرآن اولين ايات د قرآن رب العزت خپل پيغمبر (ص) ته، خپل حبيب ته همدا وايی چې ((اقرأ باسم ربک الذي خلق، خلق الانسان من علق ...)) ګوره چې شروع د قرآن له تعليم نه ده. دلته چې اوس ما ته دا ويل کيږي چې دلته به دا فهم وي او دلته با دا فهم وي ، د خدای لپاره ځان مه غولوئ او مه ملت غولوئ. ښکاره ووايئ چې د آی ايس آی ايجنټان دي، موجود دي او نظام له پښو نه غورځوي. د آی ايس آی ايجنټان دي دا نظام له پښو نه غورځوي. بار بار مې ويلي دي چې دا نظام له پښو نه غورځوي. اسلام بدناموي، افغانستان بدناموي. دا حکومت بدناموي او دغه خلک بدناموي. دلته جوولي/تاوولي خبرې مه کوئ. دېخوا ته ځه او آخوا ته ځه لکه حيوان چې په پټو کې ځي چې کله دېخوا ته ځي او کله آخوا ته ځي او ځان غولوي. تر کومه به ځان وغولوو؟تر کومه به ځان وغولوو؟ که ځان وغولوو، ملت وغولوو، تاريخ وغولوو، ايا نعوذ بالله منها خدای و رسول (ص) غولولی شو؟ نه يې شو غولولی. نو د خدای لپاره که ادعا د دين او د خدای او د اسلامي حکومت لرو، نو د خدای لار ته راشئ .

که چېرته له بېګانه (اجنبي) سره پر تاسي باندې د پرديو (اجنبيانو) دومره فشار دی، نو قرباني ورکړئ. قرباني ورکړئ. ټول ملت په قربانۍ کې مه نيسئ. لوی ملت قربانۍ ته مه ورکوئ. تاسي څنګه خپلې داسي وويلي چې موږه نه شو کولی دا يو کال جبران کړو. نو موږه خو لګيا يو او نور کلونه هم موږ هم ضايع کوو.

**خبريال :**

**فاطمي صاحب ، دلته دا پوښتنه هم ده چې علماو هم دا غږ پر اسلامي امارت وکړ او ولس هم پر اسلامي امارت غږ وکړ چې د ښوونځيوم دروازې خلاصې کړئ. له نړۍ څخه هم غږ ورباندې کيږي يعنې که هغه اسلامي او يا نااسلامي هېوادونه دي غږ ورباندې کيږي. د هېچا نه مني. دوی د چا منې چې ښوونځي يې تړلي دي؟ ځکه چې قرآن هم ورته اجازه کړې ده چې بايد ښوونځي پرانېستل شي، ولې؟**

سيد بلال فاطمي :

الکوزی صاحب ګورئ چې زما هومره واضح او زما هومره په فصاحت سره او په پوره زړه ورتيا (جرئت) سره تر ننه پورې کله هم دا خبره چا نه ده کړې او ما له اولي ورځې څخه کړې ده. پروسږکال د حمل په درېيم باندې وويل چې دا زموږ د اسلامي امارت کړنه نه ده. دا د آی ايس آی کړنه ده او د دوه - درېو سر په نامه شيخانو چې زه هغوی ته شيخان نه وايم، بلکې زه ورته شيطانان وايم. شيخ هغه څوک دی چې د قرآن

وسنت په سيوري (رڼا) کې ځي. هغه شيخ چې له قرآن وسنت نه پښه واړوي هغه شيخ نه دی هغه شيطان دی. ابليس هم همداسي وو. ابليس بهترين عالم وو. د ابليس هومره عالم په بشر کې نه دی پيدا شوی. مګر کله يې چې ((ابی واستکبر)) يې وکړ، نو د الله تعالی له درباره ورټل شو، نو که ما ته دې شيخ هر څومره عالم واوسي او قرآن وسنت نه پلي (عملي) کوي (نه تطبيقوي) او د هغې پيروي نه کوي ما ته هغه شيخ نه دی، هغه شيطان دی.

ګورئ موږ وتاسي ته دروغ هم وويل شول. ويل يې نصاب برابر نه دی. موږه پر نصاب باندې کار کوو. دا نصاب اسلامي نه دی. له اوله دې نصاب سم دی. په پوهنتون کې دې نصاب سم دی. د هلکانو لپاره هماغه نصاب له اووم نه تر دولسمه پورې سم دی. هماغه نصاب چې نجوني او هلکان يې وايي د هلکانو لپاره سم دی او د نجونو لپاره سم نه دی. که دا نصاب غلط دی، خو هلکانو ته هم غلط دی. که نجوني پکې غلطې لارې ولاړې شي، خو هلکان هم غلطې لارې ته ځي. زه خو په دې باورې (ډاډمن/متيقن) يم چې ما خپله په دې کې بحث کړی دی چې په پخواني نصاب کې غلط شيان پکې ځای پر ځای شوي دي چې هغه بايد لرې شي. مګر دلته د دوی خبره دا ده چې دوی وايي چې نصاب خراب دی، نو ځکه نجوني ښوونځي ته نه پرېږدو، نو بيا هلکان ځنګه پرېږدئ؟

**خبريال :**

**بلې، فاطمي صاحب دلته بله پوښتنه هم راولاړېږي چې زه د دې خلاف نه يم چې ولې په مزار، هرات او يا هم په نورو ولايتونو کې د نجونو پر مخ ښوونځي پرانيستي دي. ډېره ښه خبره ده چې هلته تعليم روان دی او زده کړه جاري ساتل کيږي. اما هلته هم د نصاب خبره شته؟ يا د غه د کلتور خبره شته؟ يا د شريعت خلاف څه شته يا نشته چې د دې علت څه کېدلای شي چې هغه متل هم راګرځي چې يو بام و دو هوا.**

سيد بلال فاطمي :

خبره همدا ده چې نصاب کاملاً يو دروغ او له ملت سره کذب کيږي او دا دروغ مطلقاً د ټولو ګناهونو مور ده. دروغ د ټولو لويو (کبيره) ګناهونو مور ده. څوک چې دا عمل له ملت سره انجاموي هغه د کبيره ګناهونو مور انجاموي. په ړيره باندې خو دوی ودرېږي چې يو سنت مؤکد دی. کوم قرآني نص پرې نشته دی. يو ايات پرې نشته دی. ما ته دې يو ايات په ږيره باندې راوړي، اما دوی په ږيره باندې خلک وهي او ټکوي يې. بېعزته کوي يې او زندان ته يې اچوي. اما کله چې يو عالم چې په لويه ږيره سره راځي او دروغ وايي. وعده (تعهد) ماتوي هغه ته بيا څه سزا ده؟ هغه ته بيا څه سزا ده؟ ولې په سمت شمال کې دا شی حلال دی او په جنوب کې حرام دی؟ ولې د دې جنوب خلک په پکتيا، پکتيکا، هيلمند او په ورزګان کې راپورته کيږي او خپل بچي ښوونځي (مکتب) ته وړي، د دې مانا دا ده چې معلم موجود دی، مکان (مکتب) موجود دی او هر

څه شته دی، خودوی يې مخالفت کوي. د دوی دا مخالفت د آی ايس آی له لاسه دی او واضح يې درته وايم چې کسان يې هم پېژنم چې په تېر نظام کې هم ول او په دې کې هم دي. ځانونو ته شيخان وايي. هغه وخت کې شيخان نه ول، خو اوس شيخان شوي دي، خو زه به دا درته ووايم چې نه دا شيخان نه دي، بلکې شيطانان دي. دوی د دې خاورې دښمنان دي. څنګه چې مونږ د امريکايانو د شيطانانو سرونه غوڅول، نود دوی سرونه هم د غوڅولو دي. [خبريال : ډېره مننه فاطمي صاحب]

او په دې حرکت کې چې څومره پاک خلک موجود دي هغوی ته دا په کار ده چې دغه نجس چې دغه مېکروب چې وجود ته راغلی دی دا بايد له ځانه پاک کړي. دا بايد له ځانه پاک کړي. تاسې وګورئ چې د دغو ښوونځيو له امله مږ مقاومت چې اصلاً وجود نه لري؛ د مقاومت ډلې ته دمه ورکول کېږي. هغوی راته په ويانا کې غونډې جوړوي او په بل ځای کې يې راته جوړوي چې دا د څه لپاره؟ دا ځکه چې مونږ پخپله خپل نظام ته چېرې نيولې دي او وهو يې. په تېر نظام کې هم شپږ کاله اسلامي امارت وو. همدغه ژمنې (وعدې) ورکول کېدې او ښوونځي يې پرې نه ښوول او دا مشوره په هماغه وخت کې هماغه کس ورکړې وه چې همدا اوس هم همدغلته د اميرالمؤمنين په څنګ کې ناست دی او په غوږ کې ورته غلطې خبرې کوي او دا زه ډېر ښه پېژنم.

**خبريال :**

**ډېره مننه فاطمي صاحب، بحث ته بيرته راګرځو. درنو اورېدونکيو اوس يوې دمې ته ځو. تاسې هم راسره ملتيا وکړئ او خپله خپرونه مه هېروئ.**

بيا هم ستړي مه شئ. د ژورليد خپرونه ده او بيرته خپل مېلمه ته ورګرځو.

**مولوي صاحب، له ديني اړخه، البته د اسلامي امارت له لوري څو برخې يادې شوې دي : شريعت خبره ياده شوې ده. د تعليمي نصاب او په ښوونځيو کې د نجونو يونيفورم. تاسې خپله په کابل کې ياست. ايا دغسې يو څه مو ليدلي دي چې هغه د شريعت خلاف تر سره شوي وي او يا روان وي؟ په عاميانه کارونه (اصطلاح) کې البته يو نيم به وي په هغې کې، چې له هغې نه سترګې پټولی نه شو.**

**مولوي محمد عارف قاسمي :**

اول له هر څه نه مخکې فاطمي صاحب ته زه دا خبره کوم چې د ايمن الظواهري په باره کې تا تر ټولو ښه او کلک وضاحتونه ورکړل چې زما په هغه وخت کې ښه يادېږي چې لندن يې پکې ياد کړ، سعودي يې پکې ياد کړ. امريکا يې په دا خوله خوله کې ووهله او څه چې حقايق ول دېرو ته معلوم نه ول، خو ده وويلې، خو

زه ده دا بلنه ورکوم چې که ته هره خبره کوې په سند (ثبوت) يې وکړه او بالکل مشخصه خبره وکړه چې پلانی - نوم يې واخله.کنه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی چې د دې ايات په رڼا کې چې ((ولايغتب بعضکم بعضًا)) چې موږ ځيني به له ځينو نورو پسې غيبت نه کوو. عائشة (رض) پوښتنه وکړه چې ((ان کان ما فيه))، نو پېغمبر (ص) ورته وويل چې ((وان کان ما فيه ما تقول فقد اغتبته، وان لم يکن فيه فقد بهته )) عائشې (رض) وپوښتل که دا کمی (نقصان) پکې وي، نو هغه ورته ويل چې هو، ولو که دا کمی (نقصان) پکې وي، تا يې غيبت وکړ او که يوه خبره په دې کې نه وي، نو ته پرې تور پور ی تړې او د بهتان گناه له غيبت (سپکې) نه اوچته ده.

ته په لندن کې تشريف لرې موږ تا ته احترام لرو. زموږ افغانی يې. غالبًا د ننگرهار دی. موږ تا ته احترام لرو. د دې اجازه موږ تا ته نه شو درکولی. نه يې الله (ج) درکولی شي او نه يې پېغمبر (ص) درکوي چې ته وايی چې ((اقرأ باسم ربک ...)) چې له دېنه دا ساينسي علوم **کيميا**، **فزيک** و **بيولوژي** ... ټول پکې راغلل چې له **رياضي**، **کيميا** و **فزيک** ... نه يې هلکان ونجونې منعه کړې، نو دا داسې وشول چې په ((**اقرأ باسم ربک الذي ...**)) عمل ونه شو؟ دا په کوم تفسير کې راغليدي؟ له ځانه به د قرآن تفسير نه کوې.

له هر اړخه ستا شخصيت موږ ته محترم دی. همدغه فاطمي صاحب ما ته ډېر محترم دی. همدا نن چې راشي زه يې مخې ته ورځم افغان دی. په غېږ کې يې نيسمه، ډېر ما ته گران دی، خو ته هغسې مه کوه چې عاجل (عالم) ته توهين کوې او په لندن کې ببغمه ناست يې. که زه اوس همدلته يوه خبره وکړم، دلته حکومت دی او د طالبان حکومت تاسې ته بايد ټوکې ښکاره نه شي. دا دومره ذهين حکومت دی. دا دومره دقيق حکومت دی او دومره قوي حکومت دی چې هېچا ته لا تر اوسه پورې غاړه نه ږدي. تا ته هغه ټوکې ښکاريږي چې طالبان دي او راځه ښکنځل ورته کوه. ته خو لندن کې ناست يې. شيخانو ته دې شيطانان وويلې . ته د شيخ نوم واخله چې کوم شيخ شيطان دی؟

راشه کنه په کابل کې ورته دا خبره وکړه. ته د لنډه غرېزم خلاف يې. ته د اتريش د ويانا د غونډو خلاف يې. ته غواړې چې اسلامي امارت سم (صحيح) شي، نو ته څنگه علماو ته بدرد وايې؟ دا خو ستا د ايمان جزء نه دی چې ته د يو عالم پسې خبرې کوې.

**خبريال :**

**دی وايی چې ټول علما يې نه دي ياد کړي. هغه علما چې د ښوونځيو د خلاصولو خلاف (بندولو/تړلو) فتوی ورکوي او نه يې مراعاتوي هغه يادوي.**

مولوي محمد عارف قاسمي :

هغوی ته يي هم نه شي ويلی. هغوی خپل دليل لري او راشه خپله اول هغه شيخ پيدا کړه چي کوم يو دی؟ هغه په خوله نه معلوميږي. له يو کال راهيسي موږ کابل کي يو او نه داسي يم چي زه حق پټومه. ما حق نه دی پټ کړی. حق شريعت ته ويلی کيږي او زه د شريعت مطابق روان يمه. زه که له ويډيوګانو نه فتواګاني ورکړم او زه سل فتواګاني په امارت وباسمه، نو زما او د هغه جاهل په مينځ کي څٌ فرق شو؟

**خبريال :**

**ښه، نو مولوي صاحب، اوس د نجونو ښوونځيو تګ دغه حق دی که نه دی؟**

زه اوسني وخت کي د نجونو دغه تګ نه يوازې حق، بلکي اشد ضرورت يي بولم.

**خبريال :**

**ښه، نه بيا ولي دغه حق تري اخيستل شوی دی؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

موږ هم همدا خبره کوو. موږ کله هم د دې خبرې خلاف کړی دی؟ ليکن زه داسي نه وايمه چي زه لکه د حيوان په څېر چي کله دېخوا او کله آخوا ځان څروم، نو څنګه چي د يو مسلمان غيبت مخ په شا حرام دي، نو مخامخ سپکه کول يو مسلمان ته دا حرام دي. که ته د پوهنتون استاذ يې، که د شرکت رئيس يې، که ته هر څوک يې چي ستا اخلاق په رسنيو کي دا ډول وي چي ما ته مخامخ د حيوان نسبت کوي، نو د دې څه مطلب شو؟ زه بيا هم تا ته احترام کوم. بيا هم تا ته احترام کوم. په دې رسنيو کي مه ځان او مه موږ سپکوه. زما زړه کي هم همدا درد دی. زه خدای نه يم مکلف کړی چي د قيامت پر ورځ به له ما نه پوښتنه وکړي چي تا د ښوونځيو پر تړلو باندې ولي پر طالبانو باندې لعنت نه دی ويلی؟

تاسي له لندنه پر ما او طالبانو ولګېدې او لعنت دې وويلو. ولي دومره زړه ته درد ودروې؟ ته زموږه ورور يي همله ناست يي. ستا په څېر وزيران په کابينه کي په دې مسالي خپه دي. وروره لږ ځان اداره (کنټرول) کړه. ته له موږه په ښه ځای کي ناست يې. که هر څه دي، ته له هغه ځايه غوسه درځي او دلته پر موږ باندي دومره بې کنټروله خبرې کوې؟

بله خبره زه فاطمي صاحب ته دا کوم چي زه د يو دوست په سترګه ورته ګورم او پر ما په غياب کي ډېر ګران هم دی تر اوسه لا موږ سره ليدلي نه دي او پېژندګلوي مو سره نشته. پر طالبانو باندې دغه ټاپه (تور) لګول چي تاسي د آی ايس آی خلک ياست چي دا خو د سوشل لنډه غرېزم همه خبره او غټه لاسته راوړنه همدغه ده. شل کاله سوشل لنډه غرېزم همدغه خبره يي کړی ده چي :

## You’re ISI. You’re ISI.

موږ به یې هم ټکوو او آی ایس آی به یې هم ټکوي او امریکا به یې هم ټکوي. ځکه چې دا طالبان له مینځه ختم شي او هغوی لګیا دي لا نور هم زیاتیږي. تاسي وکتل چې څومره مقابلي یې وکړې.

د پاملرنې په پار :

مولوي صاحب، که په اردو ژبه دې لږ سر خلاصیږي، نو دېته غوږ شه چې څه وایي ؟ د یو ثبوت په توګه به همدومره دا ستا لپاره بس وي.

https://www.youtube.com/watch?v=HCpxLN0VEDE

دا چې تاسي ته او یا ستاسي په څېر نورو ته معلومات (پوهاوی) نشته، نو ستاسي نه پوهاوی خو د هر چا لپاره بسنه نه کوي او نه دا دګ ودلیل کېدای شي. ښه به دا وي چې لږ تر لږه تاسي د کرنیل امام کتاب ((د افغانستان د جهاد داستان)) هم ولولئ چې لږ سر مو خلاص او سترګي وغړیږي.

اسلامي امارت دي له سیاسي وشرعي اړخه لا له هماغه پیله د عدم مشروعیت او تر پوښتني لاندي دی. هماغه وخت له قرآني مزاحمت سره مخ وو او تر ننه لا دا ستونزه حل شوی نه ده.

وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما ۖ فإن بغت إحداهما على الأخرى فقاتلوا التي تبغي حتى تفيء إلى أمر الله ۚ فإن فاءت فأصلحوا بينهما بالعدل وأقسطوا ۖ إن الله يحب المقسطين

الله تعالی خو موږ په سمون (اصلاح) او د عدالت (انصاف) په پلي کولو او رامینځته کولو مکلف کړي یو نه دا چې د اسلامي امارت په جوړولو او هغه هم په داسي حال کي چې د نوموني پر ورځ یې هلته کرنیل امام او د بېګانه څارګري اداري اړوند نور چاروا کي موجود ول. امیرالمؤمنین د کرنیل امام په لارښوونه او د ترابي په غوښتنه ونومول شو، خو کرنیل امام او ورسره دله یې خپل حکومت ته ژمن او وفادار ول نه امیرالمؤمنین ته، نو دا د امیرالمؤمنین نومونه له هماغه پیله له حرج ومرج سره مخ ده. مولانا فضل الرحمان او مولانا سمیع الحق خو ځانونه هغه وخت پاکستاني واکمنانو مشرف او زرداري ته ژمن بلل، نو دا لفظي عمومیت او معنوي خصوصیت یا په نورو ټکو تعمیم وتخصیص په یو شخص کي په آن واحده کي هغه هم له یوي جغرافیه ***“Panjabi Establashment”*** څخه په بله جغرافیه افغانستان کي څنګه توجیه او تفسیروئ؟

ایا کولی شئ چې داسي یو حکم یعني یو قرآني لاسوند او یا یو حدیثي لاسوند تاسي رامخته کړئ چې هغه موږ وتاسي پر دې مکلفوي چې موږ دې اسلامي امارت جوړ کړو؟ بلکي دا به یوه د ټولني د نظم او دسپلین لپاره یوه هڅونه واقتباس وي چې د ولس په غوښتنه او خوښه ورته یو نظام یعني سیستم وحکومت جوړ شي، نو ولي له ټاکنو ویره لرئ؟

**خبریال :**

**اما ده ټول ياد کړي نه دي. ويې ويل چې د ګوتو په شمېر يو څو کسان دي چې د آی ايس آی غړي دي او هغوی دلته په اسلامي امارت کې دي او د دې لپاره کار کوي او غواړي چې دا نظام د پرزولو لور ته بوځي.**

مولوي محمد عارف قاسمي :

بنه خبره ده. هغه ته د مشرانو سره په تماس کې شه. نومونه يې ورکړه. هغوی به دوی په لاس **live** کې ګېر کړي لکه رجب صاحب اردوغان چې د يهودو ټول باندې يې په ترکيه کې ختم کړ. د يهودو ډېر قوي باند وو، هغه باند يې بالکل ورته ختم کړ. په اردو (پوځ) کې داسې کسان ول چې هغوی ته يې په **live** کې جاسوسي کوله او دا ټول يې ګېر کړل چې نور نظاميان يې مقرر کړل. ته راشه او له مشرانو سره په تماس کې شه. د اسلامي امارت مشران خصوصًا هغه څوک چې په امنيتي برخه کې دي هغوی داسې کمعقل خلک نه دي. هغوی ډېر ....

**خبریال :**

**ايا دوی پر دغه باندې اسناد لري يا دا چې دوی نه شي کولی چې پر دغه باندې فاطمي صاحب په لندن کې خبرېږي او د دوی امنيتي پرسونل / برخه دومره کمزورې ده چې د دوی په دې کړنه باندې نه خبرېږي؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

هغه به دوی درته ووايي چې زموږ څه مشکل دی؟ هغه مشکل به ټول درته ووايي. ليکن دا خبره چې دوی موږ واخېستو او د آی ايس آی په غېږه کې يې واچولو، نو زما ضمير يې دا خبره نه مني. د طالبانو په لسهاو مشران دوی مړه کړل. په سلهاو طالبان يې په شهادت ورسول. زموږ هموطنان تر اوسه دا وايي چې ډرون الوتکي له پاکستانه راځي. دوی قطعًا له هغوی سره جوړ نه دي.

**خبریال :**

**دلته هغه پوښتنه هم راولاړېږي چې د اسلامي وزارت د پوهنې وزارت له لورې هغه څرګندونې تر سره شوې چې لکه څرنګه عمرانخان په اسلامي کنفرانس کې  څرګندې کړې وې. د پاکستان پخواني صدراعظم د کلتور خبره د اسلامي هېوادونو په کنفرانس کې ياده کړه چې د کلتور له مخې په افغانستان کې د نجونو په تعليمي نصاب باندې بايد بهرنيان ډېر ټينګار او لاسوهنه ونه کړي.څکه چې دوی کلتوري محدوديتونه**

**لري او نه يي شي کولی، خو د بهرنيانو د وزارت د بيان او په څنګ کې د پوهنې وزارت له لورې دا خبره کيږي چې کلتوري محدوديتونه دي او خپله وزير هم دا خبره په اوروزګان کې تر سره کړه چې ځينې محدوديتونه دي چې خلک نه غواړي چې خپلې لونې ښوونځيو ته وليږي. ايا تاسي داسي فکر نه کوئ چې هماغه خبرې بيرته دلته تطبيق شوې؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

له عمرانخان سره هېڅکله طالبان جوړ شوي نه دي. له عمرانخان سره حتی د خپل مملکت کسان يې کله جوړ دي؟ هغه څوک چې ورته نخاګاني کوي هغه څو تنه زنانه پرې ميبني دي او د کرکټ په برخه (وخت) کې به چې ده کله کټه ووهله او ښځو به ځانونه ترې قربانول هغه د هغوی په خيال کې همدغسي دی، خو پاکستان د عمرانخان په وخت کې سل په سلو محفوظيت نه لري، نو ودې شي چې د د ده دغه خبره د طالبانو له دغې خبرې سره تصادفًا جوړه راشي.

**خبريال :**

**اما هغه وړاندې کړې وه او اسلامي امارت له هغه پسي وروسته دا خبره وکړه.**

**مولوي محمد عارف قاسمي : هغه څه ويلي وو؟**

**خبريال، هغه همدا خبره کړې ده.**

**مولوي محمد عارف قاسمي : چې کلتوري خبره يې کړې وه؟**

دا خو هسي د يو مملکت په باره د هغه د نظر پيش کول يعني نظر څرګندول دي. اما دا د دې خبرې دليل نه شي کېدای چې هغه دې دوی ته ديکټې (پېغورونه) ورکوي. اسلامي امارت هېڅکله د هغه ....

**خبريال :**

**د اسلامي امارت د پوهنې وزارت هم همدا خبره کړې ده.**

**مولوي محمد عارف قاسمي : ودې يې کړي دوی دې هم وکړي. دا هسي يو پلمې دي چې په هماغه وخت کې د خبريال له خبرو ځان خلاصوي. نور هېڅ خبره نشته.**

**خبريال :**

**يعنې په افغانستان کې د شريعت له اړخه کلتوري محدوديت درست (صحيح/سم) دی؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

هېڅ خبره نه ده. زه په ډاګه اسلامي امارت ته وايم او زما دېته اړتيا (حاجت) نشته چې له ما نه پورته ټول پوه (هوښيار) په همدې فتوی دي چې يعنې په امارت کې ټول غټ غټ مشران يعنې ډېر غټ غټ مشران چې خصوصًا اميرالمؤمنين ته ورغلي دي او ورته يې ويلي‌دي چې يا اميرالمؤمنين دی اسلامي امارت کې چې خلکو دې شلو کلونو کې موږ دومره قرباني ورکړي دي او اوس دا خلک وکوچيږي او راڅخه ولاړ شي او دا حالت خراب شي، نو څومره موږ خپل ځان پخپله په تېښه وهو؟ مګر شيخ صاحب بيرته تر اوسه کومه لېوالتيا نه ده ښوولې. موږ هم الله ته تمه (هيله/اميد) لرو او دې خويندو ته هم همدا خبره کومه چې تاسې په دې اړه (هکله) هم الله تعالی ته متوجه شئ، نو بس دا خو کله ناکله داسې مشکلات راځي. ګورئ اوس دا شل کاله يې چې طالب په کوم نوم ټکولو او ډېر سخت (اشد) يې ټکولو، [**هو**]، او په مخکېنې امارت کې هغه وخت طالب له خلکو سره څه کړي وو؟ يعنې د طالبانو کسان راغلل او هغه وخت کې دا پاټکونه ورک وړل. سمه ده کنه؟ [**هو**]. همداسې غل وغلبازي يې ورکه کړله. هر وخت کې که د طالب صفت کوي که امريکايان يې هم کوي، په دې يې کوي چې په امنيت کې دوی اول نمبر دي. يعنې په امنيت راوستلو کې دوی مخکې دي. هغه مخکې ځل يې هم، نو امنيت يې درته راوستلو، تاسې دومره منفور کړل او په دې که څه هم مو قناعت ونه کړ چې دوی په کابل کې بنديان شول. لاس وپښې مو ورته په ځنځيرونو وتړل او ګوانتنامو ته مو ولېږل. په درجنونو په سلګونو دوی لېونيان شول. مغزه د دوی خراب شول. کورونه تا بمبارد کړل. [**بلې**].

په ټوله جنوب غرب حوزې کې هغه منظمې مدرسې قطعًا يوه دانه هم پاتې نه شوه. حتی يوه مدرسه يې نه پرېښووله. په يو مسجد کې به چې دوه تنو طآلبانو سبق ويلو بس سملاسي (عاجل) به ورپسې راورسېدل او ويل به يې چې دا ختمي تروريستان دي. ختمًا طالبان دي، ختمًا بمونه جوړوي او تا دومره توهين کړل چې د طالبانو پر مشرانو دې اوس هم شاباس (آفرين) وي چې لا تر اوسه يې مغزه دومره کار کوي او دوی بايد ټول لېونيان وای. [**ډېره زياته مننه**]

**خبريال :**

**فاطمي صاحب اوس بيرته په بحث کې تاسې ته راځو، د ښوونځيو ترڅنګ چې وګورو دغې برخې اوس د ولس او حکومت تر مينځ ډېر فاصلې رامينځته کړي دي. فکر نه کوئ چې دغه فاصلې به لکه څنګه چې تاسې مخکې ورته اشاره درلودله چې تاسې ورته د مقاومت د مړې برخې نوم ورکړ اوس دغه مړه برخه بيرته راژوندی شوي ده. تش په نوم باندې مقاومت وو، خو اوس بيرته ژوندی شوی دی او دغه ده چې**

**جګړه یې روانه کړې ده. فکر نه کوئ چې دغه ډول ډلې به لا نور هم تقویت شي او دا خلک به لا نور هم له حکومت سره فاصلې پیدا کړي؟**

سید بلال فاطمي :

مننه، الکوزی صاحب اول ما ته اجازه راکړئ چې د مولوي صاحب ځینو خبرو ته ځواب ورکړم.

دا چې دوی وویل چې دوی زما مینه وال دي - زه له دوی مننوی یم. احترام لري او زه هم ټولو علماو ته احترام لرم. زه د اسلامي امارت د اولې ورځې له حرکت نه چې کله په ۱۹۹۴ ز کې د دوی نظام (ډله) جوړه شوه تر اوسه ورسره یم او همنظره یم او ما د دوی دا هر حرکت تایید کړی او په مشکل وخت کې هم ورسره ودرېدلی یم. په مشکل وخت کې ورته راغلی یم او کله چې نظام سقوط وکړ او در په دره ول. خپله پېښور ته راغلی یم او کومکونه مې راوړي دي او لاسرسي مې کړې ده او په سختو شرایطو کې درېدلی یم. په دې لندن کې نیول شوی یم. بندي شوی یم او د انګلیستان پولیسو مې په کور باندې چاپه لګولې او د القاعده په نوم باندې نیول شوی یم. دا ټول شیان چې دي او دا خبره چې دوی کوي چې زه باید دا خبره له دوستانو سره شریکه کړم. ما شریکه کړې ده. الحمد لله ټول مشران ما پیژني. زنګ مې وهلی او خبره مې ورسره شریکه کړې ده. او دا کوم چا ته چې زه وایم چې دا د آی ایس آی سړی دی - دا مې هم شریکه کړې ده. دا سړی په هغه نظام کې هم قوي وو او اوس هم قوي دي. او له ده سره ما مخامخ هم داسې غبرګون (عکس العمل) ښکاره کړی دی چې زه یې دا دی د رسنیو (میډیا) له لیارې (طریقې) نه وایم او هغه به یې اوري هم. ان تر دې چې د سهار په لمانځه کې مخکې شوی دی ما ورته په اوړه لاس ایښی دی او ورته مې ویلي دي چې له تا پسې لمونځ نه کیږي دېخوا ته شه. ما وروسته لمونځ نه دی کړی. ما بل امام مخته کړی دی او بیا مې لمونځ کړی دی او هغه ته مې ویلي دي چې ته به ځې او له الله تعالی به ښښنه (عفوه) غواړې. ځکه ما ورته وویل دا خاوره چې نظام یې سقوط کړی دی. دلته که کلیسا جوړیږي مجرم یې ته یې او که شراب هم څوک څښي مجرم یې ته یې. ځکه تا غلطې فتوی ګاني ورکولې او تا نظام دېته راورسولو چې اخر نظام سقوط وکړ. هماغه وخت کې مې هم ورته ویلي چې دا مه کوئ. هماغه وخت د ښوونځیو د بندولو مشوره همدې سړي ورکړې وه. او دا نوم ما اخیستی دی او ورکړی مې دی او ټول یې ښه پیژني. او زه چې وایم د آی ایس آی سړی دی زه پرې ثبوت هم لرم. الحمد لله دا جرئت هم لرم او ما مخامخ مې هم ورته ویلي دي. دې چې وایي چې ته راشه او مخامخ یې ورته ووایه. همدغسې مې له اوړې نه نیولی او له امامت نه مې لیرې کړی دی.

ان شاءالله دومره مې ایمان غښتلی (قوي) دی او زه له چا نه وېرېږم. که په ما کې وېره او ترس وای، نو ما به دا خبرې داسې دومره په زغرده (ډاګه) نه کولی. ځکه ما ته دوه شیان ډېر مهم دي :

- **لومړی، یو الله**

- **او دويم زما خاوره افغانستان.**

دا دوه شيان ما ته ډېر مهم دي.

ما ته هبت الله، ما ته بل څوک او بل/هغه څوک دومره مهم نه دي. دوی تلونکي او راتلونکي خلک دي. مهم خو نظام دی، اسلام دی، دين دی او خاوره ده چي دلته هغه موږ نافذوو.

او دا خبره چي دوی وايی چي خدای مه کړه تاسي ما ته توهين وکړ. ګورئ دا لړ (ترتيب/سلسله) د خبرو چي جريان لري موږه ژولي خبرو، خو په زغرده يا په ډانګ پيپلي توګه کولی يي نه شو. **ولي؟**

بله دا چي دوی وويل چي د وزيرانو په کابينه کي ډېری (زياتره) خپه دي او د ښوونځيو د خلاصولو ملاتړي (طرفدار) دي، **نو خير ولي بيا نه کيږي؟**

بل يي دا وويل چي کلتوري مسأله محضي يوه پلمه (بهانه) ده. ځکه دا يو واقعيت دی چي کلتور له دين، سنتو او له قرآن نه لوړ (اوچت) نه دی. دا دين د غلطو عنعناتو (کلتورونو) او رواجونو (رسمونو) خلاف راغلی دی، **نو بيا څنګه موږ دين يوې خوا ته کړو او کلتور رامخته کړو؟**

دی خپله وايی چي دا يوه پلمه (بهانه) ده، **نو ولي پلمي (بهاني) کوئ؟**

خپله دی يو عالم دی. همدا ستاسي او د ملت په مخکي دې ځواب راکړي چي په قرآن وسنت کي چي څه شی موجود نه وي، نو د علماو اجماع ته ولاړ شئ. حال دا چي دلته خو قرآن وسنت دواړه دک ودليل موجود دي، نو دوی د علماو اجماع ته ولي ځي؟ دا د دې لپاره چي تاسي بېلاری ته ولاړ نه شئ او پيغمبر (ص) تر دې حده وايی چي په يوه موضوع (مسأله) يا ستونزه کي ولو که ستونزې وي، خو بيا هم چي اجماع د علماو/امت پرې موجوده وي، نو تاسي هماغه ومنئ (قبوله) کړئ. د دې لپاره چي هغه ګل ده (ډېره کی پرې همانده دي)، نو تاسي فرد (جزء) ته مه ځئ.

دلته خو اجماع د علماو/امت شوې ده او د علماو په شوری ۹۸٪ په سلو کي دا پرېکړه (فيصله) وکړه چي ښوونځيدې خوشي شي. دا څرنګه/څه ډول عالمان دي چي خپله پرېکړه هم نه مني؟ او دی بيا ما ته وايی چي هغه توری (کلمه) ورته مه کاروه. يا په نورو ټکو د شيخ پر ځای هغه بله کلمه ورته مه کاروه. ولي يي ورته ونه کاروم؟ ايا هغه له قرآن وسنت نه اوچت دی؟ هغه چي د علماو د اجماع پسي نه ځي او هغوی ورته په سمه/صحيح لاره باندي فتوی ورکوي او دی د علماو له شوری نه هم اوچت دی. د ده علميت د ټولو علماو له علميت نه هم اوچت دی. باور وکړه که د ده علميت د ټولو علماو له علميت نه اوچت هم وي، مګر د پيغمبر (ص) د لارښوونې پر بنسټ که پر يوه خبره د علماو اجماع او د نظر يووالي وي، نو ته به هغه پلي کوي (تعقيبوي). دوی يي نه پلي کوي (تعقيبوي) او بيا دوی دلته ما ته راځي او وايی چي دا خبره مه کوه. ما دا خبرې کړې ده، بيا يي هم کوم او بيا يي هم کوم. ځکه چي په قرآن کي ما ته دا شی راځي چي ابليس لويترين عالم وو او مقربترينه پرېښته وه. مګر کله يي چي د الله تعالی له حکم نه يي سرغړونه وکړه او ويې نه منلو، نو الله تعالی له خپل دربار (رحمت) نه وشړلو او تر قيامته شړلی او رټل شوی دی.

**خبریال :**

**فاطمي صاحب دلته یونما هم په دې اړه باندې اعلامیه ورکړې ده چې یوکال پوره شو او ویلي یې دي چې دغه یوه غمژنه او د شرم وړ کال وو چې تېر شو. که دلته بیرته همدغه دیني اړخ (برخې) ته که راوګرځو، نو دا چې وایو چې اسلام تر ټولو مخته (وړاندې) دی او محترم دین دی چې موږه منلی (قبول کړی) دی او پر همدې مخته ځو، خو موږ ته نور غیرمسلم راپورته کیږي او د شرم وړ خبره درته کوي ایا دا هم موږ ته لوی زیان نه دی؟**

سید بلال فاطمي :

دا خو زه جامع تل همدا خبره کوم چې له دغه کړنې (عمل) سره خپل دین (اسلام)، دنیا او هر څه ټولو مسایلو ته ضربه رسوو. موږ دغه مسأله څنګه ستونزه (مشکل) ده/دی چې حل نه لري؟ یوه لاره خو لري. ګوره پینځه لارې یو چې قرآن دی، سنت دي، د علماو اجماع ده، قیاس دی او اجتهاد دی. اوس بالکل دا ټولې لارې بندې دي. که دغه بندیز دی اجتهاد ورته وکړه. دا هم موږ وتاسو ته یو رسالت (مسؤولیت) سپارل شوی دی او د اجتهاد مسؤولیت هم په تا باندې دی. په دغې مولوي صاحب قاسمي باندې دی چې اجتهاد ورته وکړه، خو دی پخپله هم پوهیږي چې د ده خبرې ته هم څوک غوږ نه ږدي. دې خپله مخکې وویل چې په کابینه کې وزیران دي. هغوی دا شی غواړي او څوک ورته غوږ نه ږدي او دا واقعیت وایی چې دا ما ته معلوم دی. څکه الحمد لله زه له ټولو دوستانو سره په اړیکه (تماس) کې یم. له ما سره خبرې کوي. داسې نه ده چې زه دا خبرې دلته کوم او هلته یې نه کوم، بلکې زه یې ورسره شریکوم. ما ته ټول وایي چې زور مو نه رسیږي. ولې مو زور نه رسیږي؟ وه خدایه ورته ووایه چې ته له خدای و له قرآن اوله سنت نه اوچت پروازونه کوې؟ ته دومره لوی عالم شولې چې ته هم په خلقت او بشریت دواړو کې له ابلیس نه لوی عالم نه یې تېر شوی.مګر ګورئ چې دلته دین دی او خلک له نظام څخه ورځ تر بلې فاصله نیسي. نظام کمزوری (ضعیفه) کیږي. دنیا ردڅخه فاصله ونیوله او پاکستان خوشاله دی او در ګرده په دې باندې پیسې اخلي او دی ورور چې وایی چې موږ څه ثبوت لرو؟ وا وروره، دا ۴۴ کاله ټول عمر زموږ په دې دواړو جهادو کې تېر شو. په اول جهاد کې هم درسره وو او په دې دویم کې هم درسره وو او ښکاره ګورې چې پاکستان مکتبونه یې سوځول. مدرسې یې سوځولې، روغتونونو (شفاخانو) ته یې اور اچولو. مولوي صاحب دې خپله راته ووایی چې په مدرسه کې کوم یا څوک بېدینه وو چې مدرسې ته اور اچول کېده؟ په کوم مکتب کې بېدینه څوک وو چې اور ورته اچول کېده؟ خو که وو د امریکایانو بارکونه ول او په هغې باندې حمله کېدله. د روسانو بارکونه وو په هغې باندې حمله کېدله. او زموږ اسلامي دنده (وظیفه) هم همدا وه چې موخه **target** مو هم هماغه بارکونه وي نه خلک او ولسي وګړو ته باید ضربه ونه رسیږي. او دا خو ده ته هم

د يو مجاهد په توګه معلومه ده او ان تر دې چې پلار مې ۱۴ کاله د نظامي رئيس وو او زموږ دا ټول کارونه چې جهاد ته تنظيمېده ټول د آی ایس آی په ترو تر سره کېدل. ما ته خو ټول د طالبانو د حرکت دننه هم راته معلوم دي چې دلته څه ته راباندې ټولي کيسي کوئ. هدايت (لارښوونه) ټوله له هغه ځايه اخلي. آی ایس آی زموږ وستاسي قوي حکومت نه غواړي. په هغې کې د آی ایس آی لاسونه شته. د خدای لپاره دی پر هغو خلکو باندې پرده اچولی نه شي. دغه خلک زموږ په وجود کې داسي دي لکه مېکروب غوندې او دا مېکروب باید لیرې کړو. که په موږ کې څوک امریکا ته لاسپوڅي (جاسوسي) کوي، نو وايی چې دا لاسپوڅی (جاسوس) دی او که پاکستان ته لاسپوڅي (ايجنسي) کوي، نو بيا هلته خاموشه (چوپ) کيږو، نو بیا وايی چې دا مه وايه. ولې يې ونه وايم؟ زما د خاورې تباهی ته ناست دي. زما دين په خطر کې دی. زما اسلام او زما اسلامي امارت په خطر کې دی او دوه کسه ځانته په اسلام اباد کې کورونه او جايدادونه اخلي. ته له دې ځای نه پيسي جوړوې او درګرده ما بدناموې او نظام مې راته خرابوي، نو څنګه يې ورته ونه وايم؟

**خبريال :**

**فاطمي صاحب دلته مې مخکې هم پوښتنه وکړله چې پاتي شوه او تاسي د مولوي صاحب پاتي شويو خبرو ته مو ځواب وويلو. لکه چې مخکې ما تاسي وويلي دلته د مخالفينو د تقويې خبره هم رامينځته شوه. که د حکومت او د ولس (رعيت) ترمينځ دغه ډول نورې پلمې (بهانې) کيږي او دغه فاصلې که نورې هم رامينځته شي ايا ممکنه نه ده چې مخالفين تقويه شي؟**

سيد بلال فاطمي :

خدای شاهد دی الکوزی صاحب زه محترم مولوي صاحب قاسمي ته دا خبرې کوم. زه چې کله خبرې کوم، نو زما زړه دردیږي او دا خلک خوشالیږي. دوی همدا وايی که ګوره فاطمي څنګه دفاع کوله او څنګه اوس د دوی پر ځان نښتی دی؟ خو خدای شاهد دی چې دوی زموږ وستاسي له دغو خبرو نه هم لذت وړي. بيا بله دا ده چې دوی ته چا واښه هم نه اچول. دغه دېرش تنه چې پرون د اتريش په ويانا کې راټول شوي ول چې دغه جرئت چا دوی ته ورکړ؟ دا زه تاسي ته په یقین سره وايم چې څومره معلومات چې زه لرم امریکا و انګليس سره له دې چې د مقاومت د جبهې تر شا ولاړ دي دوی د اسلامي امارت د دغه نظام د پرځېدو طرفداران نه دي. ځکه چې دوی په همدغه نظام کې اصلاح غواړي تر هغې چې دغه نظام اوسي او سمونونه (اصلاحات) پکې راشي او له نړۍ سره تعامل (سازش) وکړي. دوی خپله دا وايی چې دوی غله دي. دوی هغه غله دي چې موږ يې هم وخوړلو، افغانستان يې هم خراب کړ او اوس هم شرم نه لري او

راځي او اوس په نړيوالو رسنيو کې کښېني او خبرې هم کوي. دا چانس ورته چا ورکړ؟ دا ورته موږ پخپل لوی لاس ورکړ. که دا مو په پوهې سره ورکړی او که په ناپوهی سره، خو دا چانس موږ ورته ورکړی دی.

**خبريال :**

**فاطمي صاحب وخت کم دی اسلام امارت بايد په لنډو کې څه وکړي؟**

سيد بلال فاطمي :

ګورئ چې اسلامي امارت ته بيا - بيا مې هم بار بار مې دا ويلي دي. ګورئ دا ورونه چې دوی وايي چې کابينه هم دا نظر لري او په دې باندې زه ډاډه (متيقن) يم چې ډېری ٪۸۰ برخي په دې نظر ده او زموږ که هر يو مشر دی چې دوی خو سيده ويل چې ((اميرالمؤمنين يي نه مني)). هغه ته دوی بايد ولاړ شي او ورته ووايي چې دغه ټول موږ ستا مجاهدين يو. ستا وګړي يو او له تا سره مو حال او د زړه درد يو دی. د الله تعالی له احکامو نه ته هم خبر يي او زه/موږ خبر يم/يو چې دلته خو زموږ د علماو اجماع ده چې دغه پرېکړه (فيصله) بايد ترېنه واخلي، خو که چېرې د هغه کورنی برمته شوي وي او مشکل ورته وي هغه دې په بين المللي کچه (سطحه) باندې مطرح کړي او ودې وايی چې زما کورنی پاکستان برمته کړې ده. هغه کورنی دې ورته راخوشي کړلی شي لکه څنګه ملا برادر هم پاکستانيانو نه خوشي کولو، خو د امريکايانو په زور راخوشي شو. په امريکايانو باندې راخوشي شو چې دا کار هم وکړي. او بله دا چې که دا په دې ډول هم نه کيږي، نو بيا دې لويه جرګه راوغواړي او په لويه جرګه کې دې دوباره دا موضوع مطرح کړي او له هغوی نه دې دا پرېکړه (فيصله) واخلي او دغه لاره دې خلاصه کړي. د خپل نظام پښې دې نه سستوي. ورو ورو، ګورئ د دې په عوض په دومره وخت کې د شنګهای غونډه وشوه زموږ وستاسي سيټ تش (خالي) پاتې شو. اسلامي کنفرانس کيږي او زموږ سيټ پکې تش (خالي) دی. په هېڅ يو ځای کې موږ ته څوک ځای نه راکوي. او موږ کلکې خپل دواړه پښې مو په يوه موزه کې کړي دي چې زما دا لاره سمه (درسته/صحيح) ده. وا وروره چې ملت يي درته وايی، امت يي درته وايی، د خدای او د رسول ټول احکام يي درته وايی چې بيا خو دا کار مه کوئ. بيا خو خپلي پښې پخپله تېشه مه وهئ.

**خبريال :**

**له تاسي څخه ډېره مننه فاطمي صاحب، خوشاله اوسئ.**

**مولوي صاحب که په لنډو ټکو کې راته ووایی چي د ښوونځیو (مکتبونو) د پرانیستلو یعني خلاصون په باره کې اسلامي امارت باید څه وکړي؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

نو اسلامي امارت ته موږ په دغه وخت کې مشوره ورکوو چي خپله دوی په هېڅ خبره باندی نه پوهیږي. [سمه ده کنه] خو تاسي یقین وکړئ چي په اسلامي امارت کې دومره پوهان او دومره هوښیار خلک شته چي په ډېرو دقیقو لارو (طریقو) سره یې امیرالمؤمنین ته دا خبره کړې ده چي ورته به حیران شي. ټولو ورته دغه مشوره ورکړې ده. ټول بند پاتې دي.

**خبریال :**

**بیا هم که دغه ښوونځي پرانېستل شي، نو ګټه (فایده) به یې څه وي؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

ته ګوره چي دا اوس خو ما او تا دلته خبرې کوو او فاطمي صاحب هلته له لندنه پر موږ باندې په غوسه دی. کاشکې چي زموږ پر وس پوره وای، څومره مشورې موږ ورکړې او په دې سوشل رسنیو (میډیا) کې ما غواړي ...

**خبریال :**

**مولوي صاحب بیا تاسي خپله وایی چي د اسلامي امارت ټول / زیاتره غړي او ان د وزیرانو تر کچې پوري د دې طرفداره (ملاتړي) دي چي ښوونځي دې خلاص شي او. علماو هم ورته ویلي دي. د افغانستان د ټولو علماو یوه مجمعه راټوله شوه او یوه خبره تر سره شوه. نړیوال ورباندې غږ کوي، نو بیا د چا له لوري دا ښوونځي بند پاتې دي؟ د چا په امر؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

پخپله د خپل مشر په امر بند پاتې دي. مشر څه عادي سړی نه دی چي څوک ورته هبة الله وایی او څوک ورته هیبت الله وایی. تاسي یو ځلي له هغه سره په ژوندۍ **live** بڼه اړیکه (تماس) ونیسئ چي هغه څه درته وایی؟

بیا ما تاسي ته لاره دروښووله چي والقدر خیر وشره ... د چا په لاس کي دی؟

**خبریال : د الله تعالی په لاس کي دی.**

د الله تعالی په لاس کي دی. ولي ته دا شی هبة الله ته منسوبوې یعني نسبت کوې چي هغه راباندې ترلي دي؟ قسم پر خدای چي که الله تعالی یي درباندي راخوشي کړي چي د شیخ هبت الله په زړه کي په دوه دقیقو کي دا خبره واچوي. د کوم افغان په خیال کي دا خبره ګرځېدله چي امریکا به له طالبانو سره داسي تړون (پروتوکول) کوي چي یو غونډ او بسته حکومت به سپاري او زموږ مرسته او کومک به نه ترلاسه کوي.

**خبریال :**

**یعني ستا په اند له حکومت نه نور د خوشي کېدلو تمه نشته او الله تعالی ته باید زاری وشي چي ستاسي موخه یعني هدف مو همدا دی؟**

مولوي محمد عارف قاسمي :

ډېره غټه خبره همدا ده.

**خبریال :**

**مولوي صاحب ډېره زیاته مننه.**

**فاطمي صاحب له تاسي هم مننه چي په بحث کي راسره وئ.**

درنو اوردونکیو د ژورلید خپرونه هم همدلته پای ته رسیږي....

*** *** ***

## د سمون او لا پوهاوي په پار :

ابلیس پرېښته نه وو، بلکي له جنیاتو څخه وو. یوه ورځ لا څه ان چي د سترګو د رپ هومره هېڅکل له پرېښتو څخه نه وو. **واذ قلنا للملائکة اسجدوا لآدم فسجدوا الاّ ابلیس کان من الجن ففسق عن امر ربه ....** [الکهف : ۵۰]

عربى - التفسير الميسر : واذكر حين أمرنا الملائكة بالسجود لآدم، تحية له لا عبادة، وأمرنا إبليس بما أُمِروا به، فسجد الملائكة جميعًا، لكن إبليس الذي كان من الجن خرج عن طاعة ربه، ولم يسجد كِبرًا وحسدًا.
أفتجعلونه -أيها الناس- وذريته أعوانًا لكم تطيعونهم وتتركون طاعتي، وهم ألد أعدائكم؟ قَبُحَتْ طاعة الظالمين للشيطان بدلا عن طاعة الرحمن.

**واذا قلنا للملائكة اسجدوا لآدم فسجدوا الا ابليس ابى (١) واستكبر (٢) وكان من الكافرين (٣) [البقرة : ٣٤]**

ثم أمرهم تعالى بالسجود لآدم; إكراما له وتعظيما; وعبودية لله تعالى، فامتثلوا أمر الله; وبادروا كلهم بالسجود، **{ إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى }** امتنع عن السجود; واستكبر عن أمر الله وعلى آدم، قال: **{ أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا }** وهذا الإباء منه والاستكبار; نتيجة الكفر الذي هو منطو عليه; فتبينت حينئذ عداوته لله ولآدم وكفره واستكباره. وفي هذه الآيات من العبر والآيات; إثبات الكلام لله تعالى; وأنه لم يزل متكلما; يقول ما شاء; ويتكلم بما شاء; وأنه عليم حكيم، وفيه أن العبد إذا خفيت عليه حكمة الله في بعض المخلوقات والمأمورات فالوجب عليه; التسليم; واتهام عقله; والإقرار لله بالحكمة، وفيه اعتناء الله بشأن الملائكة; وإحسانه بهم; بتعليمهم ما جهلوا; وتنبيههم على ما لم يعلموه. وفيه **فضيلة العلم** من وجوه: منها: **أن الله تعرف لملائكته; بعلمه وحكمته**، ومنها: **أن الله عرفهم فضل آدم بالعلم; وأنه أفضل صفة تكون في العبد**، ومنها: أن الله أمرهم بالسجود لآدم; إكراما له; لما بان **فضل علمه**، ومنها: أن الامتحان للغير; إذا عجزوا عما امتحنوا به; ثم عرفه صاحب الفضيلة; فهو أكمل مما عرفه ابتداء، ومنها: الاعتبار بحال أبوي الإنس والجن; وبيان فضل آدم; وأفضال الله عليه; وعداوة إبليس له; إلى غير ذلك من العبر.

او داسي نورې ډېرې بيلګي درواخله چي د لا معلومات دلته يي لوستلى شئ.

هل ابليس من الجن او من الملائكة ؟

**عن عائشة -رضي الله عنه- قالت: قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: ((خُلقت الملائكة من نور، وخُلق الجَانُّ من مَارِجٍ من نار، وخُلق آدم مما وُصِفَ لكم)).**

**إِنَّ مثل عيسى عند الله كمثل آدم - خلقه من تراب ثم قال له كن فيكون [آل عمران : ٥٩]**

آدم / انسان له خاورو، پرېښتي له نور او جان (ابليس) له اور څخه پيدا شوی دی.

خو البته دومره ده چي الله تعالى ورته د دې قوة ورکړی دی چي څنګه انسان ته راشي. وسوسه ورواچوي او څنګه يي دوکه يعني تېر باسي او بېلارې يي کړي، خو الا ما شاء الله يعني هغه څوک چي د الله تعالى په ساتنه کي وي هغوی دوکه کولى نه شي.

د امام فخرالدين رازي او شيخ نجب الدين کبری په کيسه کې دا راځي چې شيطان ورته د ځنکدن وخت کې راغلی وو او غوښتل يې چې هغه په آخر وخت کې تېر باسي او امام فخرالدين رازي د ځنکدن په وخت کې ۳۶۰ دلايل ورسره د الله تعالی په ثبوت کې ويلي وو چې بالآخره شيخ نجب الدين کبری ته د کشف له لياري معلومه شوه چې هغه ورسره دلايل وايی، نو غږ يې کړ چې ووايه ((من خدا را بغير از دلايل ميشناسم))، نو د دې په اوريدلو او ويلو سره شيطان تري ولاړ او هغه خپل روح رب العالمين ته وسپاره.

سمه ده چې يو څه پوهه (علم) به الله تعالی ورکړی وو چې په سورة الاعراف کې يې کيسه راغلي ده [**الأعراف : ١١ - ١٨**] دا چې وايو چې شيطان [ابليس] تر هر چا زيات عالم وو، نو ښه دا ده چې احتياط وشي. په ځينو خرافاتو او اسرائلياتو کې احتياط ښه او غوره دی.

ځکه هغه پوهېده چې د الله تعالی لعنت به پر يو چا راځي، خو کله يې چې له امره سرغړونه وکړه او پوه شو چې کار خو خراب، نو له الله تعالی يې تر قيامته مهلت وغوښت او سوګند يې يا کړ چې زه به له هر اړخه ستا بنده ګانو ته راځم چې دوکه يې کړم او بېلارې يې کړم. الله تعالی هم ورته خپله پرېکړه واوروله او له هغه وخت تر ننه او له نن څخه تر قيامته به له انسان سره خپله دښمني پالي.

**قال ابن عباس : أول من قاس إبليس فأخطأ القياس ، فمن قاس الدين بشيء من رأيه قرنه الله مع إبليس.**

**قال ابن سيرين : ما عبدت الشمس إلا بالقياس.**

**قال محمد بن جرير : ظن الخبيث أن النار خير من الطين ولم يعلم أن الفضل لمن جعل الله له الفضل ، وقد فضل الله الطين على النار من وجوه منها : أن من جوهر الطين الرزانة والوقار والحلم والصبر وهو الداعي لآدم بعد السعادة التي سبقت له إلى التوبة والتواضع والتضرع فأورثه الاجتباء والتوبة والهداية ، ومن جوهر النار الخفة والطيش والحدة والارتفاع وهو الداعي لإبليس بعد الشقاوة التي سبقت له إلى الاستكبار والإصرار ، فأورثه اللعنة والشقاوة ، ولأن الطين سبب جمع الأشياء والنار سبب تفرقها ، ولأن التراب سبب الحياة ، فإن حياة الأشجار والنبات به ، والنار سبب الهلاك.**

ابن عباس رضی الله تعالی عنه وايی لومړی هغه څوک چې قياس يې وکړ هغه ابليس وو چې پخپل قياس (ګومان) تېروته (خطا شو).

محمد بن جرير دا وايی چې دې خبيث دا ګومان وکړ چې اور له ختې غوره دی او په دې نه پوهېده چې فضل (غوره والی / بهتري) الله تعالی په خاوره/ختېه کې اچولې ده. الله تعالی ختې پر اور باندې بهتره ده. له

دې داسي برېښني چي نوموړی پوه (عالم) نه وو، که وای، نو داسي بېځايه اټکل (ګومان/حدث) به يې نه کولو. په دې هيله چي دوستان پرې پوه شي.

په درنښت

سيد حسين پاچا

پوټزل: طالب مشران وايي هبت الله اخندزاده د نجونو د ښوونځيو د تړلو پرېکړه کړې

https://www.pashtovoa.com/a/un-security-council-on-Afghanistan/6765390.html

افغانان: اسلامي امارت بايد ژر تر ژره د نجونو ښوونځي پرانيزي

https://www.youtube.com/watch?v=d0XSt8D-qKI

تالبيانو مکتب ويل کفر اعلان کړ که د انجونو وي که د هلکانو وي واي هيڅ ضرورت نشته خبرې يې واورئ

https://www.youtube.com/watch?v=ej4CgT4cUO0

نيمه‌ورخ: د ښځو د حقونو غوښتني په اړه د ملګرو ملتونو ټينګار

https://www.youtube.com/watch?v=hPtNhXv6peY

تودې خبرې: د شانګهای همکاريو سازمان غونډه؛ افغانستان ته د ګډون بلنه نه‌ده ورکړل شوې

https://www.youtube.com/watch?v=AIMlJ2xLrzI

**www.dawatmedia24.com**